www.Taleemulislam-Radio.com

د سنت او بدعت په هکله بهترین کتاب

# سنت او بدعت



Ketabton.com

لیکونکی مولانا محمد شفیع صاحب

صدیقي کتب خانه کاسي روډ کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

كل بدعة ضلالة و كل ضلالة فى النار
[صحيح حديث]
هر بدعت ګمراهي ده او هره ګمراهي په دوزخ کي ده.

# سنت او بدعت

ليکونکی مولانا مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه
پښتو ژباړه محمد شفيق رحماني

صديقي کتب خانه کاسي روډ کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.Taleemulislam-Radio.com


د دې کتاب ټول حقوق د خپروونکي سره خوندي دي

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم..........................سنت او بدعت
ليکوال.....................مفتي اعظم مولانا محمد شفيع
ژباړن..........................محمد شفيق رحماني
ناشر............................ذبيح الله صديقي
د چاپ کال..................................۲۰۰۸ع
خپروونکی............صديقي کتب خانه کاسي روډ کوټه
د چاپ شمير.................................زر
د کمپيوټر چاري.....................محمد يوسف
بيه..........................پنځوس روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زيري

ښاغلو هيوادوالو تاسي ته زيري درکوو چي موږ په پښتو ژبه د ديني کتابو د چاپولو هوډ کړی دی چي له هغو شخه ګڼ شمېر پښتو کتابونه چاپ ته چمتو سوي دي او ستاسي لاسونو ته رسېدلي دي.

ګرانو هيوادوالو په پښتو ژبه کي پخوا دومره ديني ليکني نه وې نن له ښه مرغه پښتو ژبه پر مختللې ده او لا زياتي هڅي رواني دي موږ هم پتېيلې ده چي په پښتو ژبه به کتابونه خپروو او په دې ډګر کي به له سيالو قومونو شخه کم نه راځو او په دې به وياړو چي په پښتو ژبه مو ديني کتابونه تر خپلو پښتنو ورونو پوري ورسول انشاء الله.

موږ د ديني کتابونو د خپرولو دغه لړۍ بهانده ساتو او راتلونکي کتابونه به په دې پسې چاپ سي نور مو وخت نه نيسم لوی ښتن مو مل روغ جوړ او بريالي اوسئ.

ذبيح الله صديقي

۲۰۰۸-۵-۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۸ |
| ۲ | د بدعت او سنت تر منځ جګړه | ۱۲ |
| ۳ | د بدعت عیبونه بدعت څه دی | ۱۴ |
| ۴ | د بدعت د نه جواز او منع کېدو وجه | ۱۸ |
| ۵ | بدعت د دین د بدلولو لاره ده | ۲۱ |
| ٦ | بدعت حسنه او بدعت سیئه | ۲۴ |
| ۷ | د بدعت غندنه په قرآن او حدیث کي | ۲۷ |
| ۸ | بدعتونه د اولیاوو په نظر کي | ۳٦ |
| ۹ | امام طریقت فضیل بن عیاض رحمة الله علیه | ۳۷ |
| ۱۰ | ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه | ۳۸ |
| ۱۱ | ذوالنون مصري رحمة الله علیه | ۳۹ |
| ۱۲ | بشر حافي رحمة الله علیه | ۴۱ |
| ۱۳ | ابوبکر دقاق رحمة الله علیه | ۴۱ |
| ۱۴ | ابو علي جوازني رحمة الله علیه | ۴۲ |
| ۱۵ | ابوبکر ترمذي رحمة الله علیه | ۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦ ابو الحسن وراق رحمة الله علیه ۴۴
۱۷ ابراهیم بن شیبان رحمة الله علیه ۴۴
۱۸ ابو عمر زجاجي رحمة الله علیه ۴۵
۱۹ ابو یزید بسطامي رحمة الله علیه ۴٦
۲۰ ابو محمد بن عبدالوهاب ثقفي رحمة الله علیه ۴۷
۲۱ سهل تستري رحمة الله علیه ۴۸
۲۲ ابو سلیمان داراني رحمة الله علیه ۴۹
۲۳ ابو حفص حداد رحمة الله علیه ۵۰
۲۴ حمدون قصار رحمة الله علیه ۵۰
۲۵ احمد بن ابي الحواري رحمة الله علیه ۵۱
۲٦ جنید البغدادي رحمة الله علیه ۵۲
۲۷ ابو عثمان جیري رحمة الله علیه ۵۳
۲۸ ابو الحسین نووي رحمة الله علیه ۵۴
۲۹ محمد بن فضل بلخي رحمة الله علیه ۵۵
۳۰ شاه کرماني رحمة الله علیه ۵۵
۳۱ ابو سعید خراز رحمة الله علیه ۵٦
۳۲ ابو العباس ابن عطاء رحمة الله علیه ۵٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | ابراهیم خواص رحمة الله علیه | ۵۷ |
| ۳۴ | بنان حمال رحمة الله علیه | ۵۸ |
| ۳۵ | ابو حمزه بغدادي رحمة الله علیه | ۵۸ |
| ۳۶ | ابو اسحاق رقاشي رحمة الله علیه | ۵۹ |
| ۳۷ | ممشاد دینوري رحمة الله علیه | ۵۹ |
| ۳۸ | ابو علي روزباري رحمة الله علیه | ٦۰ |
| ۳۹ | ابو محمد عبدالله بن منازل رحمة الله علیه | ٦۰ |
| ۴۰ | رواجي بدعتونه | ٦۱ |
| ۴۱ | د صلوة و سلام رواجي طریقه | ٦۲ |
| ۴۲ | د اسقاط حیله یا دوره | ۷۴ |
| ۴۳ | د لمانځه او د روژو د فدیو مسئلې | ۸۴ |
| ۴۴ | د نبي علیه السلام سایه | ۸۷ |
| ۴۵ | د اولیاوو د زیارتو شرعي حیثیت | ۹۳ |

---

د کتاب پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

په اوس دور کي د بدعت توپان خورا په شدت سره خپور شوی دی د علماوو پام يې خپلي خوا ته ور اړولی له بده مرغه دغه توپان په داسي شرايطو کي راغلی دی چي عيسويت، کميونزم او قاديانيت پر مسلمانانو له هر لوري ښخه يرغلونه کوي د مسلمانانو د يو لږ ډلو يووالي ته په اوس دور کي ډېره سخته اړتيا ده بدعاتو په زوره سره سر پورته کړی دی علماء چي د عيسويت، کمونزم او قاديانيت سره په مقابله بوخت وه هغوی اړ شول چي ډګر پرېږدي او داخلي انتشار ته پام وکړي پر دې غم چي څومره وژاړو لږ دی دسنت او بدعت په نامه دغه رساله د بدعاتو په رد کي د مولانا محمد شفيع صاحب د يو لږ مضامينو او رسايلو ټولګه ده ځيني يې بيلي بيلي په نورو ښو هم خپرې شوي دي ما د لوستونکو د اسانتيا لپاره دغه مضامين سره يو ځای ګړل د کتاب په بڼه مي. کړه چي د مفتي صاحب تر کتلو وروسته خپرېږي يوه مهمه خبره دا هم چي دغه رساله بايد ډېره خپره شي تر څو ناپوهان پوهي ورښخه ترلاسه کړي او هغوی ته د سنت روښانه لار آسانه شي.

محمدرفيع عثماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقدمه

د نبي عليه السلام حديث دی چي په آخره زمانه کي به فتنې زياتي پيدا شي، موږ داسي زمانې ته راوتلي يو چي ټوله نړۍ فتنو نيولې ده سهار او ماښام نوي نوي فتنې راوزي د فتنو او مشکلاتو زمانه ده د سنت پر سمه لار پاتېدل مشکل دی په حديث شريف کي راځي:

العبادة الهرج کهجرة الیّ.[1]

ژباړه:- د فتنو په زمانه کي عبادت داسي دي لکه څوک چي هجرت وکړي او ماته راشي په يوه بل حديث کي راځي څوک چي د امت د فساد په زمانه کي زما سنت ژوندی کړي د هغه لپاره د سلو شهيدانو اجر او ثواب دی په بل يوه حديث کي راځي د فتنو په زمانه کي د سنت سره موافق عمل ثواب د پنځوسو کسو د عمل ثواب لري

[1]: رواه مسلم، مشکات

(c) ketabton.com: The Digital Library


او هغه پنځوس کسان هم د نن نه بلکي د صحابه کرامو د زماني د پنځوسو کسانو او څه وخت چي بدعات او منکرات په نړی کي ډېر شي د هغه وخت د عالمانو لپاره نبي علیه السلام فرمايي چي هغوی دي خپل علم ښکاره کړي که يې داسي و نه کړه د هغه چا لپاره سخت وعيد دی.

(لما اخرجه الاجري في كتاب السنة عن معاذ بن جبل رض وسياتي تمامه).

د هرې زمانې او هر وخت عالمانو په خپل دور کي د فتنو په وخت کي د نبي علیه السلام د سنت سمي طريقې روښانه کړي ، او د بدعاتو ګډوډي يې له منځه وړې ده مګر اوس فتنې ډيري شوي دي بې ديني خدای نه منل حديث نه منل او ختم نبوت نه منل هغه فتنې دي چي د اسلام تهدابونو ته ضربې ور کوي ما د فتنو په مقابل کي تر خپله وسه د دين خدمت کړی دی د تصنيف او تأليف کار مي هم کړی دی د اعتقادي بدعاتو په مقابل کي دريدلی يم د عملي بدعاتو په لړ کي تر اوسه خاص کار نه دی شوی زما يوه ملګري له ما وغوښتل چي د هغه د مياشتني مجله لپاره د بدعت او د هغه د خرابيو په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه مقاله وليکم هغه د بدعت پر ضد عادت داسي ټينګار وکړ چي ما ته هيڅ د انکار کولو ځای پاته نه شو که څه هم ډيري بوختياوي مي درلودې ما وعده ورسره وکړه که څه هم زه وخت نه لرم يوه واقعه هم راپيښه شوه چي د الله په امر سره مي يوه ورځ غرمه ډوډۍ خوړله ناپامه مي د هډوکي يو ټوټه په ستوني کي بنده شوه زه هغه وخت پوه شوم چي ټوټه په ستوني کي بنده شوې وه ما د ټېرولو تدبيرونه کول مګر هډوکی په ستوني ښخ پاته شو ستونی مي خوږ شو په کراچي کي د ستوني پوه ډاکټر شفيع الدين خان په ډېره پاملرنه سره زه وکتلم وروسته يې وويل چي بې عملياتو نه کيږي بيا هغه عمليات وکړل هډوکی يې وکيښ الله جل جلاله يو ځلي بيا ژوند راکړ فکر مي وکړ چي تېر ژوند مي عبث تېر کړی دی بايد چي راتلونکی ژوند په ګټورو کارو کي تېر کړم کوم تکليف چي راباندي تېر شوی وو هغه اجازه نه راکوله چي په کار پيل وکړم ډاکټرانو او ملګرو راته ويل چي آرام وکړم وروسته مي پرېکړه وکړه چي د دارالعلوم په نوې ودانۍ کي هستوګنه پيل کړم بيا زه د برات پر دېرشمه په کال

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳۷۶هـ له ښاره دولس میله لیرې په شرافي ګوټ کې دارالعلوم ته ورغلم د هغه سیمې هوا ښه راباندې ولګېده بیا مې د فراغت شېبو طبیعت راساز کړ ما د الله جل جلاله نوم واخیست په کار مې پیل وکړ په دوې ورځې کې پاک خدای توفیق راکړ د بدعت او سنت مقاله او دوه نور مضامین مې ولیکل رساله مې بشپړه کړه کله چې انسان عزم او اراده وکړي د هغه کامیابي او ناکامي په الله جل جلاله اړه لري د انسان کوښښونه د هیڅ په معنٰی دي ټول کارونه الٰهي دي د انسان حرکت تش یوه وسیله ده.

مفتي محمدشفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د بدعت او سنت تر منځ جګړه

د بدعت خرابي به د قران او سنت له رويه بيان شي
مګر دلته يوه خبره کوم څوک چي د سنت د اتباع او د
بدعت د مخالفت بلنه ورکوي روښانه ده چي د هغه غرض
د الله او د هغه د رسول رښتني محبت او د دين د ساتني
پر ته نور هيڅ نه دی دغه ډول که څوک په يو بدعت اخته
وي هغه غرض هم د الله او د هغه د رسول د محبت وي او د
نبي عليه السلام دغه فرمان مني چي بدعت ګمراهي ده او
بد دی توپير يوازي دا دی چي د ناپوهی له کبله هغه
بدعت ته بدعت نه وايي بلکي عبادت يې بولي د الله او د
نبي عليه السلام د رضايت وسيله يې بولي د دې لپاره
مهمه ده چي د مسلمان خير غوښتل دي خپله وجيبه
وګڼل شي او هغه ته دي په خوږه لهجه سره حقيقت
وښودل شي بايد چي هغه ته د بدعتي يا وهابي په نامه و نه
ويل شي او هيڅکله بايد پېغور ور نه کړل شي د هغه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماتول د هغه د مقصد پر خلاف پر هغه تور لګول ښکاره بهتان دی څوک چي د آخرت په غم کي وي هغه د داسي حرکاتو څخه ځان ژغوري اوس زه خپل اصل مقصد ته راځم حقیقي خرابي د نه پوهېدلو او بدعت د بدعت د نه بللو څخه پیدا کیږي له دې ځکه زه تر ټولو مخکي د بدعت تعریف او د هغه حقیقت لیکم.

ان اردت الاصلاح ما استطعت و ما توفیقي الابالله العلی العظیم.

مفتي محمد شفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت عیبونه

### بدعت څه دی

بدعت په لغت کي هر نوي شي ته وايي هغه که په عباداتو کي وي او که په عاداتو کي د شريعت په اصطلاح کي د عبادت يوې داسي نوي جوړ شوي طريقې ته وايي چي د زيات ثواب په نيت تر نبي عليه السلام او تر خلفاء راشدينو وروسته غوره شوي وي او د صحابه کرامو په زمانه کي پر هغه عمل نه قولاً نه فعلاً نه صراحتاً او نه اشارتاً ثابت وي د بدعت دغه تعريف د علامه برکويي د طريقه محمديه څخه او د علامه شاطبي د اعتصام څخه اخيستل شوي دي معلومه شوه چي د عاداتو او ديني ضرورتو لپاره چي نوي آلات او طريقې هره ورځ جوړيږي هغه د شرعي بدعت سره هيڅ سمون نه خوري ځکه چي د عبادت پر طريقه او د ثواب په نيت نه کيږي او دغه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



جايز او مباح دي په دې شرط چې د يوه شرعي حکم مخالف نه وي او دا هم معلومه شوه چې کوم عبادات چې د نبي عليه السلام يا صحابه کرامو څخه قولاً فعلاً صراحتاً يا اشارتاً ثابت وي هغه ته بدعت نه شي ويل کېداى دا هم معلومه شوه چې د کوم کار ضرورت د نبي په زمانه کې نه وو وروسته د يو ديني مقصد لپاره اړتيا وليدل شي هغه هم بدعت نه دى لکه ديني مدارس او تعليمونه تبليغي انجمنونه او د دين د نشر او اشاعت ادارې يا د قرآن او حديث پوهنه صرف و نحو ادب عربي او د فصاحت او بلاغت فنون يا د اسلام د مخالفو فرقو د جواب ويلو لپاره د منطق او فلسفې کتابونه لوستل يا د جهاد لپاره نوي وسلې او نوي طريقې ايجادول د جنګ تعليم ورکول دا ټول شيان په عباداتو کي شمار دي او د نبي عليه السلام او د صحابه کرامو په زمانه کي نه وه مګر بيا هم بدعت نه دى خبره دا ده د وخت په تېرېدو سره چې څنګه اړتيا پيدا کېدله عالمانو مناسب تدبيرونه او صورتونه خپلول موږ وايو چې دغه ټول شيان په خپل ذات کې عبادات دي نه يې څوک د زيات ثواب په نيت کوي بلکي هغو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


عباداتو د وسیلې په حیثیت عبادت ویل کیږي یعني په دین کي نوی کار نه دی بلکي د دین لپاره نوی کار دی په حدیث کي په دین کي د نوي کار منع راغلې ده یعني دیو منصوص دیني مقصد د پوره کولو لپاره د اړتیا له مخی یو نوی صورت خپلول منع نه دی معلومه شوه چي د کومو کارونو اړتیا د نبي علیه السلام په زمانه کي او په وروسته زمانه کي یو راز وو په هغه کي داسي طریقه را ایستل چي د نبي علیه السلام او صحابه کرامو څخه ثابت نه وي هغه ته بدعت وایي په قرآن او حدیث سره منع او ناروا بلل کیږي مثلاً د درود او سلام لپاره ولاړېدل په پابندۍ سره ویل فقیران مړول د جماعت د لمانځه وروسته څو ځله په پابندي سره دعا کول د ثواب لپاره په ځلویښتمه ورځ خیرات ورکول او د داسي نورو شیانو پابندي کول په رجب شعبان او نورو بزرګو شپو کي له ځانه جوړ کړي لمونځونه کول پر قبرونو څراغان لګول د ځانه جوړ کړي شیان د فرضو او واجبو په شان ګڼل او په دغه کي ګډون نه کوونکی ملامتول او ملعون ورته ویل پیغور ورکول معلومه خبره ده چي درود او سلام صدقه خیرات مړو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ثواب د رسیدو لپاره په بزرگو شپو کي لمونځ او عبادت کول تر لمونځو وروسته څو ځله دعا غوښتل عبادات دي څنګه چي نن عباداتو اړتیا ده د اصحابو په زمانه کي هم ورته اړتیا وه د نبي علیه السلام اصحابو هم د نن د مسلمانانو په شان د عبادت شوق درلود څوک دعوه کولای شي چي هغه تر اصحابو زیات د عبادت شوق لري حذیفه بن یمان رض فرمايي:

كل عبادة لم يتعبدها اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فلا تعبدوها فان الاول لم يدع الاخر مقال اتقوا الله يا معشر المسلمين وخذوا بطريق من كان قبلكم.

کوم عبادت چي اصحابو نه دی کړی هغه مه کوئ ځکه چي مخکنیو د وروستنیو لپاره هیڅ شی نه دي پري ایښی چي هغه دې پوره کړي ای مسلمانانو! د خدایه وبېرېږئ د پخوانیو خلکو طریقې خپلي کړئ.

د دې مضمون روایت له عبدالله بن مسعود رض څخه هم منقول دی.[1]

---

۱: اعتصام للشاطبي ص ۳۱۰ ج ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د بدعت د نه جواز او منع کېدو وجه

ورته وګورئ دغه ټول کارونه د نبي علیه السلام په زمانه کې د عبادت په ډول جاري وه له هغه پرته یوه بله داسې طریقه خپلول چې نبي علیه السلام او د هغه اصحابو نه وي کړې د دې فلسفه او حکمت څه شی دي آیا مقصد یې دادي چې د دغو عباداتو نوې طریقې نبي علیه السلام او اصحابو ته معلومې نه وې ډېر خلک دي هغه طریقې کوي چې اسلافو نه دي کړي دوی یې کوي او غوره کړي یې دي.

په دین کې بدعت دا معنیٰ لري چې نعوذبالله نبي علیه السلام نه پوهېده او پر هغه د خیانت د تور لګولو معنیٰ لري آیا هغه پوهېده مګر خلکو ته یې نه ویل آیا د بدعت د را ایستلو دا مطلب نه دی چې نبي علیه السلام په دین کې بخل خیانت او د رسالت په تبلیغ کې کوتاهي کړې ده امام مالک رحمة الله علیه فرمايي څوک چې یو بدعت جوړوي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا دعوه کوي چي نبي عليه السلام په دين کي خيانت کړی دی (نعوذ بالله) او ټولي خبري يې نه دي ښودلي.

بدعت غوره کول دا اعلان دی چي درسالت په زمانه کي دين بشپړ نه وو بلي خوا ته قرآن اعلان کوي:

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ

[مايده ۳]

ژباړه: — نن ورځ پوره کړ ما تاسي لره دين ستاسي.

بلي خوا ته د عباداتو نوي لاري را وزي او دا دعوه کوي چي د اسلام شريعت اوس بشپړيږي آيا مسلمان دا منلای شي باور وکړئ د عبادت کومه طريقه چي نبي عليه السلام او اصحابو نه وي کړي هر څونه که په زړه پوري وي هغه د نبي عليه السلام په نزد ښه نه ده په دې اړه امام مالک رحمة الله عليه داسي فرمايي:

مالم يكن يومئذٍ دينا لايكون اليوم ديناً.

کوم کار چي په هغه زمانه کي دين نه بلل کېده نن هم دين نه دی هغوی خو دا طريقې معاذالله د نه پوهېدلو له کبله پرې ايښي وې نه يې د کاهلۍ يا غفلت له کبله بلکي ناسمي مضرري يې بللې ځکه يې پرې ايښي دي عمر بن

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعزيز رحمة الله عليه په يوه مکتوب کي ليکي چي که يو ځوک د ماښام د درو رکعتو پر ځای څلور رکعته او د سهار د دوو فرضو رکعتو پر ځای درې يا څلور رکعته وکړي يا روژه د ماښام پر ځای تر ماخوستنه ونيسي دا د مسلمان له نظره ناروا دی که څه هم هغه کس په ظاهره کومه ګناه نه ده کړې يو څه تسبيحات يې زيات ويلي دي زيات ذکرونه يې کړي دي ولي هغه ته ناروا وويل شي هغه د نبي عليه السلام ښودل شوی عبادت زيات کړی دی او د عبادت بڼه يې ور بدله کړې ده د هغه د فعل څخه داسي بريښي چي د نبي عليه السلام شريعت بشپړ نه وو اوس ده بشپړ کړ يا نبي عليه السلام په امانت کي کوتاهي کړې ده چي د عبادت دغه ګټوره طريقه يې خلکو ته نه ده ښودلې اوس غور وکړئ چي په لمانځه کي د درو رکعتو پر ځای څلور رکعته په عبادت کي زياتوب څه توپير لري چي د نبي عليه السلام او اصحابو څخه يې هيڅ نقل نه وي په شرعي عباداتو کي له خپلي خوا شرطونه زياتول په شريعت کي بدلون او تحريف دي ځکه يې په شدت سره رد کړی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بدعت د دین د بدلولو لاره ده

د بدعت تر ټولو لویه خرابي دا ده که خلکو ته په عباداتو کي د نویو طریقو د ایجادولو اجازه وشي دین بدلیږي وروسته نه معلومیږي چي اصل عبادت چي نبي علیه السلام بیان کړی دی هغه څنګه کیده؟

د تیرو امتو د دین د بدلیدو تر ټولو لوی سبب دا وو چي هغو د خپل کتاب او د پیغمبر په ښودلي عبادت کي له خپلي خوا د عبادت نوی طریقې را ایستلې د هغو دا رسم جاري وو وروسته د اصل دین او نوي ایجاد شوي شیانو هیڅ توپیر نه کیده اسلامي شریعت نفل د فرضو څخه بیل کړي دي اسلامي شریعت د هري فتنې دروازه تړلې ده او د دین د فساد لاري یې دړولي دي دغه بندوبست یې هم کړی دی چي د فرضو او نفلو تر منځ توپیر وي د حقیقت په اعتبار سره هم او د صورت په اعتبار سره هم په لمونځو کي د نبي علیه السلام او اصحابو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا عادت وو چي په مسجد کي یې یوازي فرض لمونځ په جماعت سره کاوه د نوافلو او سنتو لپاره کورته تلل تر کومو لمونځو وروسته چي سنت یا نفل نشته په هغه وخت کي تر لمانځه وروسته په مسجد کي کښیېنستل یا یې یوه وظیفه کوله د لمانځه پر طریقه مخ پر قبله نه کښېناستل بلکه راسته یا چپه خوا ته وګرځېدل تر څو د لیري څخه هر څوک پوه شي چي د فرض لمانځه ختم شوی دی سنت طریقه همدغه ده چي نفل او نفلي عبادت په کور کي وشي او که په مسجد کي سنت کوي هم سنت طریقه دا ده چي د فرض لمانځه د جماعت حیثیت ختم شي صفونه مات شي خلک مخ او شا ته شی بیا سنت وکړي او دغه راز روژه د صبح صادق څخه بیا تر لمر لوېدو ده لیکن خلک د شپې بیدیږي په بیدو خو څوک خوراک نه کوي د روژې غوندي کیفیت وي ځکه د پیشلمي خوراک سنت دی تر څو د خوب او د پیشلمي توپیر سره وشي روژه له صبح صادقه پیلیږي ځکه پیشلمي په آخر وخت کي مستحب دي دغه راز چي لمر لوېده یقیني شي ژر روژه مات په کار دی ځنډ یې مکروه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي تر څو د روژې د عبادت سره زاید وخت زیات نه شي نن هم دغه شیان الحمدلله په مسلمانانو کي جاري دي مګر د جهالت او د نه پوهېدو له کبله خلک له حقیقته ناخبره دي د سهار او د مازیګر تر لمونځو وروسته عموماً د مسجدو امامان مخ له قبلې څخه ګرزوي مګر دې ته یې فکر نشته چي د ګرزېدو غرض د دې اعلان دی چي فرض ختم شو هر څوک اختیار لري چي څه کوي هغه وکړي چیري چي ځي ولاړ شي مګر هغه ټول جماعت یې پابند کړی وي تر څو چي درې دعاوې په جماعت سره نه وکړي تر هغو ټول په انتظار ناست وي بیا په دغه دعاوو کي د خاصو خاصو شیانو پابندي وي لکه فرض تر څو چي هغه دعاوي و نه کړي خلک فکر کوي د لمانځه یوه برخه پاته ده دا له شریعته سرغړونه ده دعاګاني او وظیفې یې د فرض لمانځه سره داسي مښلولي دي لکه د لمانځه برخه چي وي تر څو چي امام د مقتدیانو سره یو ځای وظیفې او دعاګاني و نه کړي د هغوی ټولو لمونځ بشپړ نه بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## بدعت حسنه او بدعت سيئه

په صحيح حديث کي دي.
کل بدعة ضلالة وکل ضلالة في النار.
هر بدعت گمراهي ده او هره گمراهي په جهنم کي ده.
معلومه شوه چي په شرع کي هر بدعت گمراهي ده اصطلاحي بدعت ته بدعت حسنه نه وايي البته په لغوي معني کي هر نوي شي ته بدعت وايي په دغه اعتبار سره هغه شيانو ته بدعت حسنه وايي چي صراحةً د نبي عليه السلام په زمانه کي نه وه وروسته د يوې اړتيا له کبله عملي شوه لکه په اوس دور کي چي ديني مدرسې دي په هغو کي درس او تدريس د ښووني اصل بنسټ د نبي عليه السلام څخه ثابت دي پخپله نبي عليه السلام فرمايي:
انما بعثت معلماً.
زه معلم راليږل شوی يم.
د مدرسو ودانول او په هغه کي خلکو ته تعليم ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اوس دور کي ډېر مهم ګرځېدلی دی د نبي علیه السلام او د اصحابو په زمانه کي مدرسو ته اړتیا نه وه نن اړتیا ده د سنت د ژوندي کېدو لپاره مدرسې دي ځکه د مدرسې غوندي شیان په بدعت کي نه راځي لیکن د لغوي معنٰی له کبله چي څوک بدعت ورته وایي بدعت حسنه ورته وایي عمر رض د تراویحو جماعت ولید د لغوي معنٰی په اعتبار يې وفرمایل:

نعمت البدعة هذه.

دغه ښه بدعت دی.

عمر فاروق رض او ټولو ته څرګنده وه چي نبي علیه السلام په بل چاپسې هم تراویح کړي دي خپله يې هم کړي دي او تاکید يې هم کړی حقیقتاً اوشرعاً هلته د بدعت هیڅ احتمال نه وو البته د نبي علیه السلام په زمانه کي د یو خاص عذر له کبله په جماعت سره د تراویحو داسي بندوبست نه وو لکه وروسته چي د نبي علیه السلام د ښووني سره سم وشو په ظاهري او لغوي لحاظ دواړو سره دغه کار نوی وو عمر فاروق رض دې ته بدعت خسنه وویل د بدعت حسنه تر دې زیات بل تصور په اسلام کي نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدلای بس همدغه دی امام مالک رحمة الله علیه فرمايي:

من ابتدع بدعة يراها حسنه فقد زعم ان محمد صلی الله عليه وسلم خان الرسالة لان الله تعالیٰ يقول (اليوم اکملت لکم دينکم) فمالم يکن يومئذٍ ديناً لا يکون ديناً اليوم.(۱)

د دې عبادت مطلب دا دی که يو چا بدعت ايجاد کړ هغه يې ښه وباله په تحقيق سره هغه پر نبي عليه السلام باندې په رسالت کې د خيانت ګمان کړی دی او ذکر شوی آيت هم پر دغه ګواه دی چې دين پوره شوی دی کوم کار چې په هغه زمانه کې دين نه وو نن هم دين نه دی د عمر رض وينا يا د نورو بزرګانو ويناوې دليل ګرځول او ډول ډول بدعتونه د بدعت حسنه په نامه جوړولو ته اسلام هېڅکله اجازه نه ورکوي کوم شی چې په شريعت کې بدعت دی هغه مطلق ناروا دی البته په بدعاتو کې توپير شته ځينې سخت حرام او شرک ته نژدې دي ځينې مکروه تحريمي دي ځينې تنزيهي دي په قرآن او احاديثو سره او په اثار د اصحابو او تابعينو او امامانو سره په دين کې د بدعاتو او محدثاتو خرابي او دهغه څخه د پرهيز

---

۱: اعتصام اول ټوک ۴۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاکید او بې شمیره قراني آیتونه او روایات موجود دي خوله هغو څخه ځیني دلته رانقلوو.

## د بدعت غندنه په قرآن او حدیث کي

علامه شاطبي رحمه الله په الاعتصام کي ډېر آیتونه پر دغه موضوع راټول کړي دي له هغو څخه دوه آیته دلته راوړو.

مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾

[روم ۳۲]

ژباړه: — له هغه کسانو څخه چي تار په تار کړی یې دی دین خپل او شوي دي دوی ډلي ډلي هره یوه ډله په هغه دین چي دوی څخه دی خوشالېدونکي دي.

بي بي عایشه رضي الله عنها د دې آیت تفسیر د نبي علیه السلام څخه نقلوي چي د بدعتیانو ډله ځني مراد ده.[۱]

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾

۱: اعتصام مخ ۶۵ ټوک ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


[كهف: ۱۰۳-۱۰۴]

ژباړه:- ووايه ته چي آيا خبر كړم زه تاسي په زيانكارانو باندي له جهته د عمله هغه كسان دي چي ضايع شوې ده سعي د دوی په ژوندون نژدې كي او دوی ګمان كوي چي بېشكه دوی نيک كوي كار.

علي كرم الله وجهه او سفيان ثوري اونورو د اخسرين اعمالا تفسير په اهل بدعت سره كړيدي او بيشكه په دغه آيت كي د بدعتانو پوره نقشه عكس شوېده چي د ځانه جوړونكي شيان نيكي بولي او په هغه خوشاله وي چي موږ د آخرت ګټه ترلاسه كوو حالانكه د الله او د هغه د رسول په نزد د هغه اعمال هېڅ وزن او ثواب نه لري بلكه بر عكس ګناه تماميږي. د بدعت د خرابي او د هغه د ردېدو په هكله د حديثو روايات بې شميره دي چي له هغو څخه يو څو روايات دلته ليكل كيږي:

(۱) په صحيح بخاري كي بي بي عايشه رض روايت كوي چي نبي عليه السلام وفرمايل:

من احدث فی امرنا ماليس منه فهو رد.[1]

۱: اعتصام دبخاري په حواله

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: - څوک چې زموږ په دین کې نوی شی داخل کړي چې مخکې داخل نه وي هغه مردود دی.

۲۰: - امام مسلم له جابر بن عبدالله رض څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام په خپله خطبه کې وفرمایل:

امابعد فان خیر الحدیث کتاب الله وخیر الهدی هدی محمد و شر الامور محدثاتها و کل بدعة ضلالة اخرجه مسلم و في روایة النسایي کل محدثة بدعة و کل بدعة في النار. (۱)

ژباړه: - له حمد وصلوة وروسته وپوهیږئ چې تر ټولو ښه کلام د الله کتاب دی او تر ټولو ښه لاره د محمد ﷺ ده او بد کار بدعتونه جوړول دی او هر بدعت ګمراهي ده په نسایي کې روایت دی چې هر نوی جوړشوي شی بدعت دی او هر بدعت په جهنم کې دی.

عمر رض هم په خپله خطبه کې دغه توري ویل او عبدالله بن مسعود رض په خطبه کې تر ذکر شوو تورو وروسته داهم ویل:

انکم ستحدثون ویحدث لکم فکل محدث ضلالة و کل ضلالة في النار. (۲)

---

۱: اعتصام مخ ۷۶ ټوک ۱

۲: اعتصام مخ ۷۶ ټوک ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه:- یعني تاسي به هم نوي نوي کارونه راوباسئ اوخلک به ستاسو لپاره په عبادت کي نوي نوي طریقې او صورتونه راوباسي ښه پوه شئ چي هره نوې طریقه د عبادت گمراهي ده او د هري گمراهی ځای جهنم دی.

۳:- په صحیح مسلم کي له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چي نبي علیه السلام وفرمایل:

من دعا الی الهدی کان له من الاجر مثل اجورمن یتبعه لاینقص ذالک من اجورهم شیئا ومن دعا الی ضلالة کان علیه من الاثم مثل اثام من یتبعه لاینقص ذالک من اثامهم شیئا.

ژباړه:- څوک چي خلک د هدایت صحیح لاري ته راوبولي د هغه ټولو خلکو د عمل ثواب ده ته رسیږي چي د ده اتباع وکړي د دې پرته چي د هغو په ثواب کي یو څه کمبوت راوستل سي او څوک چي د یوې گمراهی خوا ته خلکو ته بلنه ورکړي پر هغه باندي د هغه ټولو خلکو گناه لیکل کیږي چي د ده اتباع کوي پرته د دې چي د هغو په گناهونو کي یو څه کمبوت راوستل سي.

د بدعتو نوي نوي طریقې را ایستل او خلک د هغو خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته رابلونکي دي پر دغه بد انجام فکر وړي چي يوازي خپل ځان بلکه ځومره مسلمانان چي په اخته سي د هغو ټولو ګناه هم وربانديي ده.

۴ : – ابو داؤد او ترمذي د حضرت عرباض بن ساريه رض څخه په صحيح سندو روايت کړی دی چي يوه ورځ نبي عليه السلام خطبه راکړه چي په هغه کي يې ډېر اثر لرونکی او جامع نصيحت وکړ زموږ تر سترګو اوښکي را تويه سوې او زړونه مي وبېرېدل ځينو ناستو خلکو وويل اې د الله رسوله! (صلی الله عليه وسلم) نن وعظ خو داسي دی لکه د رخصتېدو وصيت چي وي ته وموږ ته راوښووه چي موږ آينده څرنګه ژوند تېر کړو نبي عليه السلام وفرمايل:

اوصيکم بتقوی الله والسمع والطاعة لو لاة الامروان کان عبدا حبشيا فان من يعش منکم بعدی فسيری اختلافا کثيرا فعليکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسکوا بها و عضوا عليها بالنواجذ و اياکم و محدثات الامور فان کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة. (۱)

ژباړه: – زه تاسو ته وصيت کوم د الله جل جلاله څخه د

۱: اعتصام

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېرېدو او د اسلام د احکامو د اطاعت کولو که څه ستاسو حاکم حبشي مريي هم وي، ځکه په تاسو کي چي کوم خلک زما وروسته ژوندي وي هغوی به ډېر اختلاف ويني ځکه تاسي زما سُنت او زما وروسته د خلفاء راشدينو مهدیينو سُنت خپل کړئ او دا ټينګ ونيسئ او په دين کي نوي طريقو څخه ځانونه وساتئ ځکه چي په عبادت کي هره نوې طريقه بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده.

۵ :- بي بي عايشه رض فرمايي چي څوک يوه بدعتي ته ورغلی او د هغه عزت يې وکړ ګوا ده د اسلام په نړولو کي د هغه مرسته وکړه.[۱]

٦ :- حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي چي د نبي عليه السلام وينا ده چي که تاسي غواړئ چي پر پل صراط باندي نه وځنډېږئ او نيغ جنت ته ولاړ سئ د الله په دين کي پخپله رايه سره هيڅ نوې طريقه مه راباسئ.[۲]

۷ :- د آجري په کتاب السنه کي له معاذ بن جبل رض څخه روايت دی چي نبي عليه السلام وفرمايل:

---

۱: اعتصام للشاطبي اول ټوک مخ ۷۴

۲: اعتصام

(c) ketabton.com: The Digital Library


اذا حدث فی امتی البدع، و شتم اصحابی، فلیظهر العالم علمه فمن لم یفعل فعلیه لعنة الله والملائکة والناس اجمعین.(۱)

ژباړه:- کله چي زما په امت کي بدعتونه پيدا سي او زما اصحابو ته بد وويل سي د هغه وخت پر عالم باندي لازم دی چي خپل علم ښکاره کړي او څوک چي داسي نه وکړي پر هغه لعنت دی د الله او د ملایکو او د ټولو انسانانو.

عبدالله بن حسن وفرمايل چي ما له وليد بن مسلم څخه پوښتنه وکړه چي په حديث کي د اظهار علم څخه څه مراد دی؟ وې فرمايل سُنت.

۸:- حذيفه بن يمان رضي الله عنه وفرمايل چي د مسلمانانو لپاره د کومو شيانو چي زه خطر لرم په هغو کي تر ټولو څخه زيات خطرناکه دوه شيانې دي يو دا چي يو شی دوی ويني هغه ته پر هغه شي باندي غوره توب ورکړي چي دوی ته د نبي عليه السلام د سُنت څخه معلوم دی دويم دا چي دوی په غير شعوري توګه ګمراه سي.

سفيان ثوري رحمة الله عليه وفرمايل دغه خلک بدعتيان دي.

۱: اعتصام اول ټوک مخ۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹:- حذیفه رض وفرمایل قسم په خدای چي په آینده زمانه کي بدعتونه دا رنګه خوریږي چي که یو څوک دغه بدعت پرېږدي خلک به وایي چي تا سُنت پرېښود. (۱)

۱۰:- عبدالله بن مسعود رض وفرمایل اې خلکو! بدعت مه خپلوئ او په عبادت کي مبالغه مه کوئ پخوانی طریقې ټینګي ونیسئ هغه شی خپلوئ چي د سُنت له رویه یې تاسي پېژنی او کوم یو چي دا رنګه نه پېژنی هغه پرېږدئ.

۱۱:- عبدالله بن عباس رض فرمایي چي آینده پر خلکو باندي هیڅ نوی کال نه راځي چي په هغه کي دوی یو بدعت ایجاد نه کړي او یو سُنت مړ نه کړي تر دې حده چي بدعتونه ژوندي او سُنتونه مړ سي. (۲)

۱۲:- حسن بصري رحمة الله علیه فرمایي چي بدعتي څومره زیات په روژې او لمانځه کي مجاهده کوي هغومره له الله تعالی څخه لیري کیږي، دا یې هم وفرمایل چي د بدعتي سره مه کښېنئ چي هغه ستاسو زړونه در ناروغه کوي.

۱: اعتصام اول ټوک مخ ۹۰
۲: اعتصام اول ټوک مخ ۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳:- سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمايي هیڅ وینا د عمل پرته نېغه نه ده.او هیڅ وینا او عمل د نیت پرته نېغ نه دی او هیڅ وینا، عمل او نیت تر هغه وخته پوري نېغ نه دی ترڅو چي هغه د سُنت په برابر نه وي.

۱۴:- ابو عمرو شیباني رحمة الله علیه فرمايي بدعتي ته د توبې توفیق نه په برخه کیږي.

(ځکه چي هغه خپله ګناه نه ګڼي توبه پر څه وکړي).

۱۵:- عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه دا وینا د امام مالک رحمة الله علیه او د وخت د ټولو عالمانو په نزد همېش د یاد ساتلو وړ ده:

سن رسول الله صلی الله علیه وسلم سننا و ولاة الامر من بعده سننا الاخذ بها تصدیق لکتاب الله واستکمال لطاعة الله، و قوة علی دین الله، لیس لاحد تغییرها ولا تبدیلها ولا النظر فی شئ خالفها، من عمل بها مهتد و من انتصر بها منصور و من خالفها اتبع غیر سبیل المومنین، و ولاه الله ما تولی واصلاه جهنم و ساءت مصیرا.

ژباړه:- نبي علیه السلام یو څو سُنتونه جاري کړل او د نبي علیه السلام وروسته خلفاء راشدینو یو څو سُنتونه جاري کړل دا خپلول د کتاب الله تصدیق او د الهي طاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library


تکمیل او د الله په دین کي قوت ترلاسه کول دی په هیڅ ډول په دې کي نه بدلون روا دی او نه د دې خلاف یو شي باندي نظر کول روا دی څوک چي پر دې عمل کوي هدایت موندي او څوک چي د دغه سُنتو په مرسته د الله تعالی مرسته ترلاسه کول وغواړي د هغه مرسته کیږي او څوک چي د دې خلاف وکړي هغه د مسلمانانو له لاري څخه مخالف لاره خپله کړه الله تعالی هغه د هغه په اختیار او خوښه پرېږدي بیا یې په دوزخ کي سوځوي او دوزخ بد ځای دی.

## بدعتونه د اولیاوو په نظر کي

د بدعاتو او محدثاتو ایجاد کوونکي او پر دې باندي تلونکي عموماً د اولیاوو او د طریقت د مشایخو پناه اخلي او دا بدعتونه د هغوی خوا ته منسوبوي تر دې حده چي د ډیرو خلکو دا فکر دی چي طریقت او شریعت دوه برخلافه شیان دي ډېر احکام چي په شریعت کي ناروا دي د طریقت خاوندان یې روا ګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا یوه خطرناکه تېروتنه ده چې په دې کې د اخته کېدو وروسته د دین او ایمان خېر نسته ځکه چې یوازې شریعت انسان له ټولو ګمراهیو څخه بچ کوي کله چې د شریعت مخالفت روا وګڼل سو بیا په هرې ګمراهۍ کې اخته کېدل اسانه دي.

ځکه مناسب راته معلوم سو چې د بدعت په غندنې کې او د سُنت د اتباع په تاکید کې د اولیاوو او د طریقت د مشایخو ویناګانې د کفایت قدر جمع کړل سي چې خلک د دغه تېروتنې څخه بچ سي چې د طریقت مشایخ بدعات بد نه ګڼل یا د سُنت په اتباع کې سُست وه په دې هکله علامه شاطبي رحمة الله علیه په خپل کتاب الاعتصام اول ټوک مخ۱۰٦ کې یو مستقل فصل جوړ کړی دی چې په هغه کې د پخوانیو اولیاوو ویناګانې د بدعت د غندنې په هکله جمع کړې دي زموږ لپاره د دغه ویناګانو ژباړه کافي ده.

## امام طریقت فضیل بن عیاض رحمة الله علیه

فضیل بن عیاض رحمة الله علیه فرمایي چې څوک د یوه بدعتي سره کښېني حکمت یې نه په برخه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه

یو چا پوښتنه ورڅخه وکړه چي حق تعالی په قرآن شریف کي د دعا د قبلولو قول کړی دی:

ادعونی استجب لکم.

مګر موږ د ځیني کارو لپاره له ډیري مودې څخه دعا کوو نه قبلیږي، د دې څه سبب دی؟ ده وفرمایل ستاسي زړونه مړه سوي دي او د مړه زړه دعا نه قبلیږي او د زړه د مرګ لس سببونه دي:

**اول** دا چي تا حق تعالی وپېژندی خو د هغه حق دي ادا نه کړ.

**دویم** دا چي تا د الله کتاب ووایه خو پر هغه دي عمل نه وکړ.

**دریم** دا چي تا د نبي علیه السلام د میني دعوه وکړه خو د نبي علیه السلام سُنت دي پر پښود.

**څلورم** د شیطان د دښمنۍ دعوه دي وکړه خو په کارو کي دي د هغه موافقت وکړ.

**پنځم** تاسي وایاست چي موږ د جنت غوښتونکي یو خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه لپاره عمل نه کوی، دا رنګه پنځه شیان یې نور ور وشمېرل.

د دغه حکایت د نقلولو څخه غرض دا دی چي ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه د سُنت پرېښودل د زړه د مړګ سبب ګرځوي.

## ذوالنون مصري رحمة الله علیه

فرمايي چي د الله جل جلاله د میني نخښه دا ده چي اخلاق، اعمال او په ټولو کارو او سُنتو کي د نبي علیه السلام اتباع وکړل سي وې فرمایل چي د خلګو د فساد سبب شپږ شیان دي یو دا چي د آخرت د عمل په هکله د دوی همت او نیتونه ضعیفه سوي دي دویم دا چي د دوی بدنونه د دوی د خواهشاتو ځای ګرځېدلي دي دریم دا چي په دنیاوي سامانو کي د مودو مودو د انتظام کولو په فکر کي بوخت دي حالانکه عمرونه یې لږ دي څلورم دا چي د الله جل جلاله پر رضا یې د مخلوق رضا ته وړاندي توب ورکړی دی پنځم دا چي د خپلو ایجاد کړو شیانو تابع سوه او د نبي علیه السلام سُنت یې پرېښود شپږم دا چي په پخواني مشایخو او بزرګانو کي که د یو چا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه تېروتنه وسوه خلکو همدا خپل مذهب وګرځوی د دوی دغه فعل یې د ځان لپاره حجت وګڼی او د دوی پاته ټول فضایل او مناقب یې هېر کړل.

یوه چا ته یې نصیحت وکړ چي تا ته په کار دی چي د الله جل جلاله د فرضو او واجباتو په زده کړه او د هغو پر عملي کولو باندي تر ټولو زیات زیار وباسې او له کوم شي څخه چي الله جل جلاله ته منع کړی یې هغه ته مه ورځه ځکه چي د الله جل جلاله د عبادت هغه طریقه چي ده پټپله ښودلې ده له هغه طریقې څخه ډېره غوره ده چي ته یې د خپل ځان لپاره پخپله جوړوې او دا ګڼې چي زموږ لپاره په دې کي ډېر زیات ثواب دی لکه څنګه چي ځیني خلک د سُنت خلاف د رهبانیت طریقه خپلوي.

د بنده فریضه دا ده چي همېش دي د خپل باداړ پر امر نظر وساتي او هغه دي په خپلو ټولو معاملو کي فیصله کوونکی وګرځوي او د کوم شي څخه چي هغه راګرځولی دی د هغه شخه دي ځان وساتي.

نن سبا خلک د ایمان د خوږلت او باطني طهارت څخه فقط دغه شي راګرځولي دي چي دوی فرائض او واجبات معمولي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼلو سره یې دومره پابندي نه کوئ څومره چې په کار دی.

## بشر حافي رحمة الله علیه

فرمایي چې زه یو پلا په خوب کې د نبي علیه السلام په زیارت مشرفه سوم نبي علیه السلام وفرمایل اې بشره! ته خبر یې چې حق تعالی وتا ته د خپل وخت پر ټولو خلکو باندې فضیلت له څه سبب څخه درکړی دی ما وویل اې د الله رسوله! (صلی الله علیه وسلم) زه خبر نه یم نبي علیه السلام وفرمای د دغه فضیلت سبب دا دی چې ته زما د سُنت اتباع کوې او د نیکو خلکو عزت کوې او د خپلو ورونو خیر خواهي کوې او زما د اصحابو او اهل بیتو سره مینه ساتې.

## ابوبکر دقاق رحمة الله علیه

ابوبکر دقاق رحمة الله علیه چې د جنید بغدادي رحمة الله علیه د زمانې دی فرمایي چې یو پلا زه په هغه میدان کې تېرېدم چیري چې بني

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسرايل ځلوېښت کاله په قدرتي توګه محاصره وه او دباندي نه سواى وتلاى دغه ځاى ته د تيهه شپله ويل کيږي دغه وخت زما په زړه کي دا خطر پيدا سو چي علم حقيقت د علم شريعت خلاف دى ناڅاپه يو غيبي بږغ مي واورېد:

كل حقيقة لا تتبع بالشريعة فهى كفر.

ژباړه: - د کوم حقيقت موافقت چي شريعت نه وکړي هغه کفر دى.

## ابو علي جوازني رحمة الله عليه

فرمايي چي د بنده د نيک بختئ نخښه دا ده چي پر ده باندي د الله جل جلاله او د هغه د نبي (صلى الله عليه وسلم) اطاعت اسانه سي او د ده افعال د سنت په برابر سي او ده ته د نيکو خلګو ملګرتيا په برخه سي او د خپلو قريبانو او دوستانو سره د ښو اخلاقو توفيق يې په برخه سي او د الله جل جلاله د مخلوق سره يې ښه عمومي وي او د مسلمانانو خوا خوږي يې عادت وي او د خپلو وختونو ساتنه کوي (يعني خپل وخت نه ضايع کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا پوښتنه ورځخه وکړه چې د سُنت د اتباع طريقه څنګه ده؟ وې فرمايل د بدعتو څخه ځان ساتل او د هغه عقايدو او احکامو اتباع چې پر هغه باندې د اسلام د اولينو عالمانو اجماع ده او د هغو اقتداء لازم ګڼل.

## ابوبکر ترمذي رحمة الله عليه

فرمايي چې د همت کمال د هغه د ټولو صفتونو سره د محبت د خاوندانو ماسيوا هيچا ته ترلاسه سوی نه دی دا درجه دوی ته محض د سُنت د اتباع او د بدعت د پرېښودلو له کبله ترلاسه سوه ځکه چې نبي عليه السلام تر ټول مخلوق څخه زيات د همت خاوند او تر ټولو څخه زيات واصل الی الله وو.

فايده:- د صوفيانو په اصطلاح کې همت تصرف او توجه ته وايي چې معنا يې دا ده چې يو څوک د خپل تخيل قوت د يوه کار د کېدو يا نه کېدو خوا ته جمع کړي، دلته ممکن دی چې همدغه مراد وي خو د نبي عليه السلام څخه د تصرف او همت اصطلاحي استعمال هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځای صراحتاً ثابت نه دی ځکه غالباً دلته د همت لغوي معنا مراد ده یعني د دین په کارو کي چسپاندي او ټینګوالی، والله سبحانه و تعالی اعلم.

## ابو الحسن وراق رحمة الله علیه

فرمایي چي بنده الله جل جلاله ته یوازي د الله جل جلاله په مرسته او د هغه د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم د امرونو د اقتداء په مرسته رسېدلای سي او څوک چي د الله جل جلاله سره د وصل کېدو لپاره د نبي علیه السلام د اقتداء ماسیوا بله طریقه خپله کړي هغه د هدایت د تر لاسه کولو لپاره ګمراه سو.

## ابراهیم بن شیبان رحمة الله علیه

دغه بزرګ د عبدالله مغربي رحمة الله علیه او ابراهیم خواص رحمة الله علیه په ملګرو کي دی د بدعاتو څخه سخته کرکه کوونکی او پر بدعتیانو باندي سخت رد ویونکی د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


او سُنت پر طریقې باندي ټینګ ولاړ وو او د پخواني امامانو او مشایخو طرز يې لازم ګڼی تر دې حده چي د عبدالله بن منازل رحمة الله علیه د ده په هکله فرمايي چي ابراهیم بن شیبان رحمة الله علیه پر ټولو فقراوو او د اداب او معاملات پر خاوندانو باندي د الله جل جلاله لخوا یو حجت دی.

## ابو عمر زجاجي رحمة الله علیه

دی د زاهدانو نامتو امام جنید بغدادي رحمة الله علیه او سفیان ثوري رحمة الله علیه د ملګرو څخه دي فرمايي د جاهلیت په وخت کي د خلګو دا رواج وو چي د هغه شیانو اتباع يې کوله چي د دوی عقلونو به ښه ګڼل بیا نبي علیه السلام راغی او دوی ته يې د شریعت د اتباع کولو وفرمایل نو صحیح او سالم عقل هغه دی چي د شریعت ښه، ښه وګڼي او د شریعت مکروهات ناخوښه وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابو یزید بسطامي رحمة الله علیه

فرمایي ما دېرش کاله مجاهده وکړه خو ما ته هیڅ مجاهده تر علم او د علم تر اتباع څخه زیاته سخته معلومه نه سوه که د عالمانو اختلاف نه وای زه په مصیبت کي لوېدم بې شکه د عالمانو اختلاف رحمت دی (خو هغه اختلاف چي د توحید په تجربه کي وي هغه رحمت نه دی) او اتباع یوازي د سُنت د اتباع نوم دی (ځکه چي د سُنت د علم پر ته بل شي ته د علم ویلو حق نسته).

یو پلا یو بزرګ د ده سیمي ته راغلی په ښار کي د هغه بزرګ د ولایت او بزرګۍ آوازه سوه ابو یزید بسطامي رحمة الله علیه هم د هغه د لیدلو نیت وکړ خپل یوه ملګري ته یې وویل درځه چي د ده بزرګ ووینو.

ابو یزید رحمة الله علیه د خپل ملګري سره د هغه بزرګ کره ورغی دغه بزرګ د کور څخه د لمانځه دپاره راووتی چي مسجد ته ننوتی د قبلې خوا ته یې تُو کړل ابو یزید رحمة الله علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي دا وليدل بيرته راوګرځېدی سلام يې لاهم نه ورو اچوی او وې فرمايل دا شخص د نبي عليه السلام په ادابو کي پر يوه ادب توفيق نه لري چي هغه ادا کړي د ده څخه څه هيله وساتل سي چي دی به د الله ولي وي.

امام شاطبي رحمة الله عليه په خپل کتاب اعتصام کي د دغه پيښي د نقلولو وروسته ليکي چي د ابو يزيد دغه وينا يو ډېر غټ بنسټ دی د دې څخه معلوم سو چي د سُنت پرېښودونکي ته د ولايت درجه نه ترلاسه کيږي که څه هم د سُنت پرېښودل د ناپوهۍ له کبله وي.

اوس تاسي فکر وکړئ چي څوک په ډاګه د سُنت په پرېښودلو او پر بدعتو باندي ټينګار کوي هغوی د بزرګۍ او ولايت سره څه اړيکي هم درلودلای سي؟

## ابو محمد بن عبدالوهاب ثقفي رحمة الله عليه

فرمايي چي الله جل جلاله فقط هغه اعمال قبلوي چي صحيح وي په صحيح کي هم هغه اعمال مقبوله دي چي خاص د ده لپاره وي او په خاص کي هم هغه مقبوله دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي د سُنت په برابر وي.

د ابو یزید رحمة الله علیه وینا ده چي که تاسي د یوه شخص ښکاره کرامتونه ووینی تر دې حده چي هغه په هوا کي الوځي په دې باندي هیڅکله دوکه مه خورئ تر هغه وخته پوري د هغه د بزرګی او ولایت عقیده مه ساتئ ترڅو چي دا نه ووینی چي په امر او نهي، روا او ناروا، د شریعت د حدودو ساتنه او ادبو کي د ده څه حال دی.

## سهل تستري رحمة الله علیه

فرمایي چي بنده کوم فعل د نبي علیه السلام د اقتداء پرته کوي که څه هغه نېکي وي او که ګناه د نفس عېش دی، او کوم فعل چي په اقتداء او اتباع سره کوي هغه پر نفس باندي سختي او تکلیف دی ځکه چي نفس هیڅکله د اقتداء او اتباع خواهش نه کوي او زموږ د طریقې اصل مقصد همدا دی چي د نفس د اتباع څخه ځانونه وساتو.

دا یې هم وفرمایل چي زموږ (د صوفیانو) اووه اصوله دي یو د الله د کتاب سره ټینګي اړیکي، دویم د نبي علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سُنت اقتداء، دریم په خوراک، چښاک او د استعمال په شیانو کي د دې خیال ساتل چي حرام او ناروا نه وي څلورم خلک د تکلیف څخه ساتل، پنځم د ګناهونو څخه ځان ساتل، شپږم توبه، اووم د حقوقو ادا ینه.

دا یې هم وفرمایل چي د درو شیانو څخه مخلوق نا امیده سو توبه لازم ګڼل، د نبي علیه السلام د سُنت اتباع او مخلوق له خپل ضرر څخه ساتل، یو چا پوښتنه ورځخه وکړه چي غټ ظرف څه دی؟ وې ویل د سُنت اتباع.

## ابو سلیمان داراني رحمة الله علیه

فرمایي چي زیاتره وخت زما په زړه کي د صوفیانو په حقیقتو او معارفو کي یوه خاص خبره راوګرځي او تر ډیري مودې پوري مي په زړه کي راګرځي خو زه دا د دوو عادلانو شاهدانو د شاهدۍ پرته نه قبلوم دغه عادلان شاهدان کتاب الله او سُنت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ابو حفص حداد رحمة الله علیه

فرمايي کوم شخص چي هر وخت خپل افعال او احوال د کتاب الله او سُنت په تله کي نه تلي او خپل قلبي پيښي شکمني نه ګڼي هغه د تصوف د لاري په خلکو کي مه شمېره د ده څخه د بدعت حقيقت وپوښتل سو وې فرمايل په احکامو کي زياتوب يعني تر شرعي حده تجاوز، د نبي عليه السلام په سُنتو کي سُستي، د خپلو خواهشاتو او د خلکو د بې باوره رايو پېروي، د پخوانيو بزرګانو اتباع او اقتداء پرېښودل دي او هيڅ صوفي ته يو اوچت شان د صحيح اتباع پر ته ترلاسه سوی نه دی.

## حمدون قصار رحمة الله علیه

يو چا پوښتنه ورڅخه وکړه چي د خلکو پر اعمالو باندي نيوکه د يوه شخص لپاره کله روا کيږي وې فرمايل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چي هغه دا وګڼي چي احتساب او امر بالمعروف راباندي فرض سوی دی (فرضېدل داسي دی چي څوک امر بالمعروف کړل سي هغه د ده تر لاس يا قدرت لاندي وي يا دا يقين وي چي زما خبره مني او داسي نور) يا بېره وي چي په بدعت کي اخته کېدو وروسته هلاکيږي او دی دا ګمان لري چي زما په ويلو سره د دې شخه خلاصون مومي.

دا يې هم وفرمايل چي څوک د يوه صالح انسان پر حال نظر کوي هغه ته خپله ګناه او د الله د لاري د خلګو د درجو شخه خپل شا ته پاته کېدل معلوميږي.

علامه شاطبي رحمه الله فرمايي د دغه وينا غرض دا دی چي خلګ د پخوانيو بزرګانو د اقتداء خوا ته تشويق کړل سي ځکه چي همدغه خلګ د سُنت خاوندان دي.

### احمد بن ابي الحواري رحمه الله

فرمايي څوک چي يو کار د سُنت د اتباع پرته کوي هغه کار يې باطل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## جنيد البغدادي رحمة الله عليه

يو چا د ده مخ ته وويل چي پر عارفينو يو حال داسي راځي چي ټوله حركات او اعمال پريږدي د الله جل جلاله تقرب ترلاسه كړي جنيد بغدادي رحمة الله عليه وفرمايل دا د هغه خلكو وينا ده چي د اعمالو د ساقطېدو منونكي دي.

او وې فرمايل چي زه كه زر كاله هم ژوندى پاته سم پخپل اختيار سره په طاعاتو او عبادتو كي يوه ذره هم كمبوتيا نه راولم هو كه مغلوبه او مجبوره سم هغه جلا خبره ده.

دا يې هم وفرمايل چي عقلاً د الله جل جلاله سره د وصل كېدو څومره لاري كېدلاى سي د نبي عليه السلام د سنتو د اتباع پرته هغه ټوله لاري پر مخلوقاتو بندي كړل سوې (يعني د نبي عليه السلام د اقتداء پرته هيڅوك د الله نزديكت ترلاسه كولاى نه سي څوک چي داسي دعوه وكړي هغه درواغجن دى).

وې فرمايل زموږ دغه مذهب د كتاب او سُنت پابند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، وې فرمایل څوک چي قرآن شریف حفظ[۱] نه کړي او د نبي علیه السلام حدیث نه ولیکي په دغه معامله (تصوف) کي د هغه اقتداء په کار نه ده ځکه چي زموږ علم د کتاب او سُنت پابند دی او وې فرمایل چي د نبي علیه السلام د حدیث ښخه د دې تایید کیږي.

## ابو عثمان جیري رحمة الله علیه

فرمایي د الله جل جلاله ملګرتیا او صحبت په درو شیانو ترلاسه کیږي یو حُسن ادب، دویم د هیبت دوام، دریم مراقبه او د نبي علیه السلام ملګرتیا او صحبت د سُنت په اتباع او د شریعت ظاهر په لازم ګڼلو سره ترلاسه کیږي د اولیاوو ملګرتیا او صحبت په ادب، احترام او خدمت سره ترلاسه کیږي د ځکندن په وخت کي کله چي د ده ښه واوښته زوی یې له ډېره غمه خپل کالي

۱: د قرآن شریف د حفظ ښخه غالباً مراد دا دی چي د قرآن شریف پر احکامو یې نظر وي او تلاوت یې کوي همدا رنګه د حدیث د لیکلو ښخه مراد د ضروري حدیثو د مضمونو حفظ دی لکه ښنګه چي د پخوانیو او اوسنیو مشایخو د کړو ښخه ښکاره دي، مفتي محمد شفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیري کړل ابو عثمان رحمة الله علیه سترګي را روښي کړې او وې ویل زویه! په ښکاره اعمالو کي د سُنت خلاف کول دا په باطن کي د ریاء د موجودتیا نخښه ده، ده فرمایل چي څوک پر خپل نفس باندي په قول او فعل کي سُنت حاکم وګرځوي هغه په حکمت سره خبره کوي او څوک چي په قول او فعل کي خواهشات حاکم ګرځوي هغه په بدعت سره خبره کوي، د الله جل جلاله وینا ده:

وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ

[نور ۵۴]

ژباړه:- او که طاعت وکړ تاسو د ده نو لاره به بیا مومۍ.

## ابو الحسین نووي رحمة الله علیه

فرمایي څوک چي تاسي ووینی چي د الله جل جلاله په نزدیکت کي هغه د یوه داسي حال دعوه لري چي دی د شرعي علم تر حده وباسي تاسي هغه ته مه ورځۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد بن فضل بلخي رحمة الله علیه

فرمايي د اسلام زوال په څلورو شيانو دی يو دا چي خلک پر علم باندي عمل نه کوي دويم دا چي د علم خلاف کار کوي دريم دا چي د کوم شي علم ولري هغه ترلاسه نه کړي څلورم دا چي خلک د علم د ترلاسه کولو څخه راوګرځوي، علامه شاطبي رحمة الله علیه فرمايي دا د ده وينا ده او زموږ د وخت د صوفيانو په عمومي توګه همدا حال سو، او وې فرمايل چي د الله جل جلاله سره تر ټولو زيات معرفت ساتونکی هغه څوک دی چي د ده د اوامرو په اتباع کي تر ټولو زيات زيار باسي او د ده د رسول (صلی الله عليه وسلم) اتباع تر ټولو زياته کوي.

## شاه کرماني رحمة الله علیه

فرمايي څوک چي خپل نظر د محارمو څخه خوندي وساتي خپل نفس د شبهاتو څخه وساتي، خپل باطن

(c) ketabton.com: The Digital Library


همېش په مراقبه سره آباد وساتي، خپل ظاهر د سُنت په اتباع ښايسته کړي او خپل نفس د حلالو عادي وګرځوي د هغه پوهنه هیڅکله نه خطا کیږي.

## ابو سعید خراز رحمة الله علیه

فرمایي کوم باطني حالت چي د شریعت د ظاهر خلاف وي هغه باطل دی.

## ابو العباس ابن عطاء رحمة الله علیه

دی د جنید بغدادي رحمة الله علیه د زمانې دی فرمایي څوک چي پر خپل نفس الهي اداب لازم وګرځوي الله جل جلاله د هغه زړه د معرفت په نور ډکوي او هیڅ مقام تر دې اعلا او عزتناکه نه دی چي بنده په اوامرو او اخلاقو کي د نبي علیه السلام اتباع کوي، وې فرمایل تر ټولو غټ غفلت دا دی چي بنده د خپل رب څخه غافله وي او د هغه د معاملې د ادابو څخه غافله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابراهیم خواص رحمة الله علیه

فرمایي علم د روایتو د ډېر ښت نوم نه دی بلکه عالم هغه څوک دی چي د خپل علم اتباع کوي او پر هغه باندي ځي او د نبي علیه السلام د سُنتو اقتداء کوي که څه د ده علم لږ وي، یو چا پوښتنه ورڅخه وکړه چي عافیت څه شي دی؟ وې فرمایل:

دین بلا بدعة وعمل بلا آفة وقلب بلا شغل ونفس بلا شهرة.

**ژباړه:** – دین د بدعت پرته او عمل د آفت پرته (یعني د بدعت آفت په کي نه وي) او فارغه زړه چي (د الله ماسیوا د بل چا) شُغل نه ولري او نفس چي په هغه کي د شهوت غلبه نه وي.

وې فرمایل (رشتیني) صبر دا دی چي د کتاب او سُنتو پر احکامو په ټینګه ولاړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بنان حمال رحمة الله علیه

د ده څخه پوښتنه وسوه چې د صوفیانو د احوالو اصل چه دی؟ وې فرمایل څلور شیان، اول د کوم شي چې الله جل جلاله پخپله ذمه اخیستې ده پر هغه باندې باور او توکل کول (یعني رزق)، دویم په الهي احکامو ټینګ اوسېدل، دریم د زړه ساتنه (د بې معنا فکرو څخه) څلورم له جهانه څخه فارغېدو ورسته توجه فقط د الله جل جلاله خوا ته ساتل.

## ابو حمزه بغدادي رحمة الله علیه

فرمایي کوم شخص ته چې د حق لاره معلومه سي هغه ته پر دې باندې تلل هم اسانېږي او الله جل جلاله ته د رسېدو د لارې لپاره د نبي علیه السلام د سُنت پر ته هیڅ لار نښود په احوال، افعالو او اقوالو کې د متابعت نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابو اسحاق رقاشي رحمة الله عليه

فرمايي يو څوک که دا معلومول غواړي چي زه د الله جل جلاله په نظر کي خوښ يم که نه نو د الله جل جلاله د ميني نخښه دا ده چي دی د الله جل جلاله طاعت او د هغه د رسول (صلی الله عليه وسلم) متابعت ته پر ټولو کارو ترجيح ورکړي د دې خبري دليل د الله جل جلاله دا وينا ده:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ

[آل عمران۳۱]

## ممشاد دينوري رحمة الله عليه

فرمايي د مريد د ادابو مغز دا دی چي د مشايخو احترام او عزت لازم وګڼي د طريقت د وروڼو د حرمت خيال وساتي د اسبابو زيات فکر نه کوي او پر خپل نفس باندي د شريعت د ادابو پوره ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ابو علي روزباري رحمة الله عليه

یو چا ورته وویل ځیني صوفیان ساز او سندري اوري او وایي دا زموږ لپاره حلال دي ځکه چي موږ داسي درجې ته رسیدلي یو چي د احوالو اختلاف اثر نه راباندي کوي ده وفرمایل دا یې رشتیا وویل چي دوی ورسیدل خو الله جل جلاله ته نه بلکه دوزخ ته ورسیدل.

## ابو محمد عبدالله بن منازل رحمة الله عليه

فرمایي څوک چي په شرعي فریضو کي یوه فریضه ضایع کوي الله جل جلاله هغه د سُنتو په اضاعت کي اخته کوي او څوک چي د سُنتو په اضاعت کي اخته سي هغه ډېر ژر په بدعتو کي اخته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رواجي بدعتونه

څرنګه چي د بدعتو هيڅ شرعي بنسټ نسته هر وخت او هر هېواد کي د هري طبقې او هر طبيعت خلک د بدعت نوي نوي طريقې راباسي چي شمېر يې ممکن نه دی په اصولي توګه د بدعت پېژندنه او د دې تاوانونه د قرآن او حديث او د پخوانيو بزرګانو د ويناګانو څخه معلومېدو وروسته د بدعاتو تفصيل جمع کولو ته اړتيا نسته خو ډېر خلک او ناپوهان نه سي کولای چي د بدعت د پېژندني د اورېدو وروسته دا د خپلي زمانې د رواجي بدعاتو سره برابر کړي چي فلاني کار بدعت دی او که نه.

ځکه ضروري دی چي په هره زمانه کي کوم بدعتونه رواج سي هغه د ټاکلو او شمېرولو وروسته خلکو ته وښودل سي د دې لپاره د اهل سُنت عالمانو الحمدلله بې شمېره کتابونه ليکلي دي دا دي خامخا وکتل سي د بهشتي زيور او اصلاح الرسوم کتنه هم کافي ده دلته ځيني رواجي بدعات بيانيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د صلوة و سلام رواجي طريقه

**پوښتنه:** – په ځيني مسجدو کي ځيني خلک داسي کوي چي د جمعې د لمانځه يا نورو لمونځو وروسته په جماعت سره ودريږي په لوړ ږغ سره دغه لاندي سلام وايي:

يا رسول سلام عليک          يا نبي سلام عليک

او دا رنګه نور دوی دا لازم ګڼي په دغه خلکو کي د ځينو عقيده ده چي نبي عليه السلام دغه مجلس ته راځي يا هر ځای حاضر او ليدونکی دی ځکه دغه سلام پخپله اوري او جواب يې ورکوي څوک چي دا رنګه نه کوي پر هغو ملامتيا کوي او قسماقسم خبرو يې رنګ وربدوي د دې په پايله کي عموماً په مسجدانو کي جګړه پيدا سي پوښتنه دا ده چي آيا دا رنګه سلام وړاندي کول په مسجدانو کي روا دی؟ او د مسجدانو متوليانو ته د دې اجازه ورکول په کار ده که نه؟

ب:– چيري چي پر دغه ذکر سوې طريقه صلاة او

(c) ketabton.com: The Digital Library


سلام وویل سي هلته:

۱:– نبي علیه السلام راځي.

۲:– یا د راتلو پر ته پخپله سلام اوري.

۳:– یا ملایکي دغه صلاة او سلام نبي علیه السلام ته رسوي په دغه کي کومه خبره صحیح ده؟

ځ:– پورته طریقې باندي په ولاړه صلوة او سلام څرنګه دی او که په ولاړه نه وي بیا یې څه حکم دی؟

ه:– په مسجد کي دننه دغه صلوة او سلام څه حکم لري او تر مسجد دباندي یې څه حکم دی؟

جواب:– تر جواب دمخه په دې پوهېدل په کار دی چي په اسلام کي ټول عبادتونه لمونځ، روژه، د الله ذکر د قرآن تلاوت او داسي نور ټولو لپاره یو څه اداب، شرطونه او حدود سته چي د هغو په لحاظ ساتلو سره که دغه عبادتونه وسي ډېر زیات ثواب او د دنیا او آخرت کامیابي ده د دغه حدود او شرایطو څخه که جلا بله لاره خپله کړل سي بیا د ثواب پر ځای عذاب او ګناه ده لمونځ په ټولو عبادتو کي افضل دی خو د لمر راختلو او لوېدلو په وخت کي لمونځ حرام دی په ټاکلو رکعتو کي که یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


رکعت زیات کړي دا حرام دی د جماعت لمونځ سُنت مؤکده دی په دې سره د لمانځه په ثواب کي اووه ویشت چنده زیاتوب راځي خو که یو څوک نفلي لمونځ په جماعت سره کوي دا منع او گناه ده روژه څومره غټ عبادت دی او ثواب یې زیات دی خو په دواړو اخترو او ایام نحر کي روژه نیول حرام دی د قرآن شریف تلاوت غوره عبادت دی خو د رکوع او سجدې په حالت کي تلاوت منع دی او په داسي ځایو کي چي خلک یې اورېدو ته متوجه نه وي په لوړ ږغ سره تلاوت ناروا دی همدا رنگه پر نبي علیه السلام درود او سلام غوره عبادت دی بر کتونه موجبوي د دنیا او آخرت سعادت دی خو د نورو عبادتو په شان د دې هم اداب او شرایط دي چي د هغو پر خلاف کولو سره د ثواب پر ځای گناه لازمیږي.

**الف:**– په یاد سوي شکل سره په مسجدو کي د درود او سلام په نامه جنگ او جگړه کیږي دې ته د درود او سلام نمایش ویل کېدای سي درود او سلام ورته ویل صحیح نه دی ځکه چي د ډېرو بدیو د یوځای کېدو له کبله ناروا دي.

۱:– تر ټولو اول دا خبره ده چي مسجد د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ګډه د عبادت ځای دی په دې کې هیڅ فرد یا ډله د فرایضو او واجبو ماسیوا د بل کار اجازه نه لري چې هغه د نورو خلکو په انفرادي عبادت لمونځ، تسبیح، درود او د قرآن شریف په تلاوت کې فرق راولي که څه هم دغه کار د ټولو په نزد روا او ښه وي نو فقهاوو په ډاګه کړي دي چې په مسجد کې په لوړ ږغ تلاوت یا ذکر کول چې د خلکو په لمانځه، تسبیح یا تلاوت کې فرق راځي ناروا دی. (۱)

ښکاره خبره ده کله چې په مسجد کې په لوړ ږغ د قرآن د تلاوت او د ذکر اجازه نسته درود او سلام لپاره څرنګه اجازه کېدلای سي.

۲:– د یوه لمانځه وروسته په اجتماع او التزام سره په لوړ ږغ درود او سلام ویل نه د نبي علیه السلام څخه ثابت دی نه د اصحابو کرامو، تابعینو، امامانو او پخوانیو بزرګانو څخه ثابت دی که دا کار د الله جل جلاله او د نبي علیه السلام په نزد غوره او ښه وای اصحابو کرامو، تابعینو او امامانو به یې پابندي کوله خو په ټول تاریخ کې یوه پېښه هم داسي نقل سوې نه ده د دې څخه معلوم سو چې دوی د

---

۱: شامي، خلاصة الفتاوٰی

(c) ketabton.com: The Digital Library


درود او سلام لپاره دا رنګه اجتماع جوړول او دا لازم ګڼل بدعت او ناروا ګڼی په دې هکله په صحیح بخاري او مسلم کي د بي بي عایشې رض څخه د نبي علیه السلام وینا نقل سوې ده چي:

من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد.

یعني کوم شخص چي زموږ په دین کي یو نوی شی داخل کړي چي هغه په دې کي داخل نه وو نو هغه مردود دی.

او په صحیح مسلم کي د جابر رض روایت دی:

و شر الامور محدثاتها و کل بدعة ضلالة.

یعني بدترین کارونه هغه نوي شیان دي چي پخپله ایجاد سي او هر نوی ایجاد عبادت ګمراهي ده، د عبادت په نامه په دین کي د یوه نوي شي زیاتوب دا معنا لري چي د نبي علیه السلام ښوونې ناقصه دي او د شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله علیه په وینا د دین د بدلون لار ده څکه اصحابو کرامو او تابیعنو په دې هکله د ډېر احتیاط څخه کار اخیستی دی حذیفه رض وفرمایل:

کل عبادة لم یتعبدها اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم فلا تعبدوها (الی) وخذوا بطریق من کان قبلکم... الخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دايره کي وي هغه دا ځيني واخلي او دغه الفاظ پر وايي:

کل حق من حقوق الله من الفرائض والواجبات والکفارات و المنذورات بعضها اديت و بعضها لم تو دالان عاجز عن ادائها و اعطيناه هذه المنحة الشريفة على هذه النقودات فى حيلة الاسقاط رجاء من الله تعالى ان يغفرله... الخ.

وروسته دا پر خلکو گرځول کيږي درې پلا يې پر خلکو وگرځوي وروسته نيمى پيسې امام او نيمى پيسې پر غريبانو وېشل کيږي.

زيد د يوه مسجد امام دى هغه دا رواج پرې ايښى دى وايي چي د دې رواج دليل او ثبوت په شريعت کي هيڅ نسته ځکه دا بدعت دى خلک پر زيد ملامتيا کوي زيد که څه هم حنفي مذهب دى خو خلک وهابي ورته وايي او د دغه حيله پر روايښت د پلار او نيکه دليل راوړي آيا زيد پر حق دى او که پر باطل، د دغه رواجي حيلې څه حکم دى؟

ځيني پلا د گډ ميراث څخه پيسې راوړل کيږي چي ځيني وارثان هغه وخت موجود نه وي ځيني پلا يتيمان کوچنيان پاته سي آيا دغه پيسې اسقاط ته راوړل کيداى سي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبرداری:–** دا خبره دي په پام کي وي چي دا ټوله خبري د انفرادي درود او سلام په هکله نه دي ځکه په انفرادي توګه د زيات درودو ويلو فضايل په حديث او قرآن کي راغلي دي اصحابو کرامو او تابعينو همداسي کول د دې دپاره نه خو يو وخت ټاکلی دی او نه شمېر شومره چي يې په وس پوره وي هغومره دي وايي فقط د دې په رواجي اجتماعي بڼه باندي نيوکه ده.

په اسلام کي تر لمانځه ځخه زيات هيڅ عبادت نسته خو د نفلو جماعت ته فقهاوو او امامانو په اتفاق سره مکروه ويلي دي اوس د بل شي لپاره جماعت جوړول او هغه همېش او لازم ګڼل ځرنګه روا کېدای سي خصوصاً کله چي کوونکي پر دې باندي د فرضو او واجبو ځخه زيات ټينګار ولري ځوک چي داسي نه کوي پر هغو ملامتيا کوي دا په هيڅ حال کي روا نه دی بالفرض که دغه کار بدعت نه وای زيات تر زياته يو نفلي کار به وای او پر يوه نفلي کار باندي د فرضو او واجبو په رنګه ټينګار کول او خلګ دې کار ته مجبورول د دې حق نه لري.

الله جل جلاله او نبي عليه السلام چي پر يوه کار باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځوک مجبوره کړی نه وي بل ځوک هم د دې حق نه لري، پر دې باندي خلک ملامتول او پېغور ور کول يوه مسـ ئله کبيره ګناه ده دوی په ناپوهی کي داسي کوي فکر نه وهي چي پخپله د دوی په نزد هم دغه کار زيات تر زياته مستحب او نفل دی د يوه نفل لپاره ځان په کبيره ګناه اخته کول پوهي نه ده.

۳:- د خطاب الفاظ يا رسول يا نبي که په دغه عقيده وي چي څرنګه الله جل جلاله هر وخت او هر ځای حاضر او ناضر دی د کاينات هر ږغ اوري او ويني همدا رنګه (معاذالله) نبي عليه السلام هم په دغه الهي صفتو کي شريک دی نو دا ښکاره شرک او د نصاراوو په رنګه رسول ته د خدای درجه ور کول دي، که دا عقيده وي چي نبي عليه السلام دغه مجلس ته راځي که څه هم د معجزې په شکل داسي ممکن دی خو د دې لپاره ضروري دی چي په قرآن او حديث کي د دې ثبوت وي مګر په هيڅ آيت يا حديث کي داسي يادونه نسته د ثبوت او دليل پرته له خپله ځانه يوه معجزه جوړول پر نبي عليه السلام درواغ تړل دي نبي عليه السلام فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



من كذب علی معمداً فليتبوء مقعده من النار.

يعني څوک چي پر ما د درواغو يوه خبره وتړي هغه ته په کار دی چي خپل ځای دوزخ وګڼي.

که دا رنګه هيڅ غلطه عقيده نه وي بياهم شکمن توري دي چي دغه فاسده عقيده لاره پيدا کوي ځکه د دې څخه ځان ساتل ضروري دی د صحيح مسلم په حديث کي نبي عليه السلام خپل مريي ته ياعبدي ويلو څخه ځکه منع وکړه چي په دغه الفاظو سره خطاب کي د شرک وهم سته البته د نبي عليه السلام د زيارت ومخ ته د خطاب په الفاظو سره سلام ويل د سُنت څخه ثابت او مستحب دی ځکه چي هلته د نبي عليه السلام له خوا پخپله د سلام اورېدل او جواب ورکول د حديثو د روايتو څخه ثابت دی.

لنډه دا چي د نبي عليه السلام د زيارت ماسيوا په نورو ځايو کي که د خطاب د الفاظو سره هر ځای د نبي عليه السلام د حاضر او ناضر کېدو عقيده وي دا ښکاره شرک دی او که مجلس ته د راتلو عقيده وي دا پر نبي عليه السلام باندي درواغ او بهتان دي که دغه دواړي غلطي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقیدې نه وي بیا هم داسي الفاظ ځکه منع دي چي د شرک وهم ستنه.

بیا پر دغه ناروا کار باندي ټینګار کول بله ګناه ده د فرضو او واجبو په رنګه دا ضروري ګڼل دریمه ګناه ده دا رنګه نه کوونکي بې ګناه مسلمانانو ته بد و رد ویل او پېغور ورکول څلورمه ګناه ده په مسجدو کي په لوړ ږغ داسي ویلو سره د نورو خلګو شُغل خرابول پنځمه ګناه ده.

فتاوٰی عالمګیري کي راغلي دي:

ما یفعل عقیب الصلوة مکروهة لان الجهال یعتقدونه سنة او واجبة.

یعني کوم خلګ چي تر لمانځه وروسته ذکر، درود یا سلام او داسي نور په لوړ ږغ کوي دا مکروه دي ځکه چي ناپوهان یې سُنت یا واجب ګڼي.

د قرآن شریف او نبي علیه السلام د ښوونې څخه د ناپوهی له سببه ډېر نیک خلګ هم دا ګڼي چي دا کار د نبي علیه السلام سره د میني نخښه ده ځکه دوی ګڼون پکښې کوي د نبي علیه السلام سره د میني جذبه ښکه د قدر وړ ده خو بې ځایه استعمال یې داسي دی لکه یو څوک چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله جل جلاله په مینه کي د ماښام د درو رکعتو پر ځای څلور رکعتونه وکړي او د ځانه سره چُورت ووهي چي یو رکعت مي زیات وکړ تر نورو زیات ثواب را رسیږي خو هغه د خپلو درو رکعتو ثواب هم لاسه ورکوي.

لنډه دا چي په اجتماع او لازم ګڼلو سره په مسجدو کي په ولاړ په لوړ ږغ سره د درود او سلام ویلو رواجي طریقه د شرعي خلاف د جنګ او جګړې پیلامه ده او مسجدونه د اختلافاتو مرکز ګرځول دي ځکه د مسجدو پر متولیانو او د حکومت پر خاوندانو لازم دی چي په مسجدو کي هیڅکله د دې اجازه ور نه کړي که یو څوک غواړي چي داسي وکړي هغه دي پخپله کور کي کوي چي لږ تر لږه مسجدونه د شر او شور او منځني شخړو څخه خوندي وي.

ب:- پورتني جواب کي په ډاګه سوه چي دغه مجلس ته د نبي علیه السلام راتلل په هیڅ شرعي دلیل سره ثابت نه دی دا پر نبي علیه السلام بهتان دی نبي علیه السلام پخپله د دې خبري فیصله په یوه حدیث کي دا رنګه کړې ده:

من صلی علی عند قبری سمعته و من صلی علی نائیا ابلغته. (۱)

---

۱: مشکات له بیهقي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني ځوک چي زما قبر ته نژدې درود او سلام وايي هغه زه پخپله اورم او ځوک چي له ليري ځخه درود او سلام استوي هغه (د ملايکو په ذريعه) وما ته را رسول کيږي.

ج:- ځرنګه چي ذکر او د قرآن شريف تلاوت په ولاړه، ناسته او په پروته هر رنګه روا دی همدا رنګه درود شريف هم هر رنګه روا دی هو يو ځوک که په ولاړ درود ويل اړين او د دې خلاف بې ادبي ګڼي دا له خپله ځانه يو غير واجب کار واجب ګرځولو له کبله ناروا دی خصوصاً چي نبي عليه السلام په لمانځه کي په ناسته د درود ويلو سُنت جاري کړی دی بيا په ناسته درود ويلو ته بې ادبي ويل د الله جل جلاله د امر او د نبي عليه السلام د ښووني مخالفت دی دا داسي دی لکه يو ځوک چي ووايي چي قرآن شريف يوازي په ولاړه ويل په کار دی په ناسته ويل بې ادبي ده.

د:- د دې جواب په الف برخه کي ښکاره سو چي په ياد سوي طرز باندي سلام ويلو لپاره اجتماع جوړول او دا لازم ګڼل د ډيرو ګناهو مجموعه ده چي په مسجد کي هم ناروا دی او تر مسجد دباندي هم، فرق دا دی چي که يو ځوک په مسجد کي په ناسته مسنون درود او سلام الفاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوړ ږغ سره داسي ووايي چي په مسجد کي ناست نورو خلګو په شُغل کي فرق راځي دا هم ناروا دی او تر مسجد دباندي يې ګنجايش سته، والله سبحانه وتعالی اعلم.

هر څوک خپل قبر ته ځي او د خپلو کړو جواب ورکوي په دغه کارو کي ډله جوړول او پخواني پلرني رواجو باندي ضد او بې ځايه ټينګار دي پرېښودل سي په کار دی چي د نبي عليه السلام په ښوونو کي دي غور او فکر وکړل سي د دنيا په ټولو کارو کي زموږ د يو او بل سره جګړې رواني دي لږ تر لږه د الله جل جلالهٔ کور او لمونځ له هر رنګه جګړې او فساد څخه خوندي وساتل سي.

## د اسقاط حيله يا دوره

د مړي د قضا سوو لمونځ،، روژو، حج، زکات او نورو واجبو او فرايضو ادا ينه يا کفاره څرنګه وکړل سي چي مړی يې له ګناه څخه خلاص سي د دې بيان د فقه په کتابو کي بشپړه راغلی دی نن سبا په ډېرو ښارو او بانډو کي خلګو يو رواج را ايستلی دی دې ته اسقاط يا دوره وايي ناپوهانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ګڼ د عبادت ځای دی په دې کي هيڅ فرد يا ډله د فرايضو او واجبو ماسيوا د بل کار اجازه نه لري چي هغه د نورو خلکو په انفرادي عبادت لمونځ، تسبيح، درود او د قرآن شريف په تلاوت کي فرق راولي که څه هم دغه کار د ټولو په نزد روا او ښه وي فقهاوو په ډاګه کړي دي چي په مسجد کي په لوړ ږغ تلاوت يا ذکر کول چي د خلکو په لمانځه، تسبيح يا تلاوت کي فرق راځي ناروا دی. (١)

ښکاره خبره ده کله چي په مسجد کي په لوړ ږغ د قرآن د تلاوت او د ذکر اجازه نسته درود او سلام لپاره څرنګه اجازه کېدلای سي.

٢ :- د يوه لمانځه وروسته په اجتماع او التزام سره په لوړ ږغ درود او سلام ويل نه د نبي عليه السلام څخه ثابت دی نه د اصحابو کرامو، تابعينو، امامانو او پخوانيو بزرګانو څخه ثابت دی که دا کار د الله جل جلاله او د نبي عليه السلام په نزد غوره او ښه وای اصحابو کرامو، تابعينو او امامانو به يې پابندي کوله خو په ټول تاريخ کي يوه پيښه هم داسي نقل سوې نه ده د دې څخه معلوم سو چي دوی د

١: شامي، خلاصة الفتاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دايره کي وي هغه دا ځيني واخلي او دغه الفاظ پر وايي:

كل حق من حقوق الله من الفرائض والواجبات والكفارات و المنذورات بعضها اديت و بعضها لم تو دالان عاجز عن ادائها و اعطيناه هذه المنحة الشريفة على هذه النقودات فى حيلة الاسقاط رجاء من الله تعالى ان يغفرله... الخ.

وروسته دا پر خلګو ګرځول کيږي درې پلا يې پر خلګو وګرځوي وروسته نيمی پيسې امام او نيمی پيسې پر غريبانو وېشل کيږي.

زيد د يوه مسجد امام دی هغه دا رواج پرې ايښی دی وايي چي د دې رواج دليل او ثبوت په شريعت کي هيڅ نسته ځکه دا بدعت دی خلګ پر زيد ملامتيا کوي زيد که څه هم حنفي مذهب دی خو خلګ وهابي ورته وايي او د دغه حيله پر روايښت د پلار او نيکه دليل راوړي آيا زيد پر حق دی او که پر باطل، د دغه رواجي حيلې څه حکم دی؟ ځيني پلا د ګډ ميراث څخه پيسې راوړل کيږي چي ځيني وارثان هغه وخت موجود نه وي ځيني پلا يتيمان کوچنيان پاته سي آيا دغه پيسې اسقاط ته راوړل کېدای سي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د دايرې خلک يې اخيستلای سي که نه؟

**جواب:** — د اسقاط حيله يا دوره ځيني فقهاوو د داسي چا لپاره ويلي وه چي د هغه يو څه لمونځونه، روژې او داسي نور اتفاقاً قضا سوي وي د قضا راګرځولو موقع يې تر لاسه کړې نه وي د مرګ په وخت د دې وصيت وکړي خو د ده په ميراث کي دومره مال نه وي چي د ټولو قضا سوو لمونځ، روژو او داسي نورو فديه ورکړل سي، داسي نه ده چي د مړي په ميراث کي مال موجود وي هغه دي وارثان وخوري او په لږ پيسو دي دغه حيله وکړي خدای او خلک تېر باسي په درمختار، شامي او د فقه په داسي نورو کتابو کي دا په ډاګه سوي دي ورسره د دغه حيلې په شرايطو کي دا په ډاګه سوي دي چي کومي پيسې چا ته د صدقې په توګه ورکړل سي هغه کس د دغه پيسو حقيقي خاوند وګرځول سي چي هر څه په کوي د هغه خوښه وي داسي نه چي محض يوه لاس څخه بل لاس ته د ورکولو لوبه وکړل سي لکه څنګه چي نن سبا په عمومي توګه په اسقاط کي داسي کيږي چي نه د ورکونکي دا اراده وي چي چا ته يې ورکوي هغه په صحيح معنا د دغه پيسو خاوند دی او نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخیستونکي دا فکر کېدلای سي چي کومي پیسې وما ته راکړل سوي دي زه د هغه خاوند او اختیار لرم.

دوه درې خلک سره کښیني پیسې یو او بل وګرځوي وروسته ولاړ سي او داسي ګڼي چي موږ د مړي حق پر ځای کړی مړی له ټولو ذمه واریو څخه خلاص سو خو په دغه بې ځایه کار نه خو مړي ته څه ثواب ورسېدی او نه د هغه د فرایضو کفاره وسوه د دې کوونکي په مُفته کي ګناهکاره سوه.

په رسایل ابن عابدین کي پر دغه مسئله یوه مستقله رساله د منة الجلیل په نامه ده په دې کي لیکلي دي:

و یجب الاحتراز من ان یدیرها اجنبی الابوکالة کما ذکرنا و ان یکون الوصی او الوارث کما علمت، و یجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عند دفع الصرة للفقیر الهزل او الحلیة بل یجب ان یدفعها عازما علی تملیکها منه حقیقة لا تحیلا ملاحظا ان الفقیر اذا ابی عن هبتها الی الوصی کان له ذلک و لا یجبر علی الهبة. [۱]

لنډه دا چي د دې اولنی بنسټ ممکن دی چي یو څه

۱: منة الجلیل في اسقاط ما علی الذمة من کثیر و قلیل، جزء رسایل ابن عابدین اول ټوک مخ ۲۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح او د شرعي قواعدو برابر وي خو څرنګه چي نن سبا د دې رواج دی او دا لازم ګڼل کیږي دا بې له شکه ناروا او د ډیرو فسادو د یو ځلی کېدو له کبله د پرېښودلو وړ دی یو څو فسادونه یې لیکل کیږي:

۱:- زیاتره پلا د دې لپاره چي کوم قرآن شریف او نغدي پیسې اېښودل کیږي هغه د مړي د میراث څخه وي او د میراث حقداره ځیني وارثان موجود نه وي یا نابالغه وي نو د دوی ګډه میراث د دوی بې اجازې په دغه کار کي استعمالول حرام دی په حدیث کي دي:

لا یحل مال امر مسلم الا بطیب نفس منه.

که نابالغ د دې اجازه ور هم کړي بیا هم دغه اجازه یې په شریعت کي باور نه لري او په داسي کارو کي د نابالغ لخوا د هغه ولي د دې اجازه نه لري چي داسي و کړي بلکه په داسي کارو کي د نابالغ مال مصرفول د قرآن شریف له رویه حرام دی:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارًا

[نساء ۱۰]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: — بېشکه هغه کسان چې خوري مالونه د يتيمانو په ظلم سره خبره دا ده چې اچوي دوی په ګېډو خپلو کې اور.

۲: — بالفرض که ګډ ميراث وي ټول وارثان بالغ وي او له ټولو څخه د دې اجازه هم واخيستل سي نو تجربه سوي دي چې په داسي حالاتو کې دا معلوموول اسان نه دي چې ټولو په خوښه د دې اجازه ورکړې ده او که د خپلوانو او قريبانو د پېغور له بيري يې اجازه ورکړې ده، دا رنګه اجازه د ذکر سوي حديث له رويه باطله ده.

۳: — بالفرض که دا ټوله خبري نه وي ټولو بالغو وارثانو ښه په خوښه د دې اجازه ورکړې وي يا يوه وارث يا پردي شخص خاص له خپلو پيسو د دې انتظام کړی وي بيا هم له لاندي فسادو څخه خالي نه دی مثلاً د دې فقهي صورت دا کېدای سي چې کوم شخص ته اوله پلا قرآن شريف او نغدي پيسې ورکړل سي هغه د دې خاوند وګرځول سي او دا ورته سپينه کړل سي چې ته د دې خاوند او اختيارمن يې هر څه چې په کوې بيا هغه شخص پخپله خوښه د چا د زور، لحاظ او خيال ساتلو پرته د مړي لخوا و بل چا ته يې همدا رنګه ورکړي هغه بل شخص د دې خاوند وګرځوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا هغه شخص یې دریم شخص ته هغه یې څلورم ته ورکړي خو په دغه رواج کي د دې خبري هیڅ لحاظ نه ساتل کیږي اول کوم شخص ته چي ورکول کیږي نه ورکونکی دا ګڼي چي دا د ده سو او دې یې اختیار لري نه اخیستونکی دا ګڼي د دې خبري صفا نخبنه دا ده چي که دغه شخص پیسې واخلي او ځیني روان سي بل چا ته یې ور نه کړي ورکوونکي هیڅکله دا زغملای نه سي ښکاره خبره ده چي دا رنګه ملکیت ګرځول نه صحیح کیږي او د ملکیت ګرځولو پر ته هیڅ قضا، کفاره یا فدیه نه معافیږي ځکه دغه کار یې بې ځایه دی.

۴:- دلته دا هم ضروري دی چي کوم شخص د دې خاوند وګرځول سي هغه د صدقې اخیستلو حقداره وي د نصاب خاوند نه وي خو په عمومي توګه د دې خبري هیڅ لحاظ نه ساتل کیږي په عمومي توګه د مسجدو امامان چي د نصاب خاوندان وي د هغه په مرسته دا کار کیږي ځکه هم دغه ټوله کار غلط او بې ځایه دی مړي ته د دې هیڅ ګټه نه رسیږي.

۵:- بالفرض که د صدقې صحیح مصرف انتخاب کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library


سي او دوی په مسئله هم ښه خبر وي او لاس ته د راوړلو وروسته خپل ځان د دې خاوند او اختیارمن وګڼي وروسته د مړي خیر خواهي په نظر کي نیولو سره یې و بل چا ته ورکړي هغه یې دریم ته هغه یې څلورم ته ورکړي په اخیر کي چي دا کوم شخص ته ورسیږي هغه د دې خاوند او اختیارمن دی اوس د دغه اخیري شخص څخه دا پیسې بیرته اخیستل نیمی پر امام او نیمی پر فقیرانو وېشل د پردي شخص په ملکیت کي د هغه بې اجازې تصرف کول دی چي د پورته ذکر سوي حدیث له رویه ظلم او حرام دی.

۶ :- بالفرض که دغه اخیري شخص د دغه پیسو په ویشلو او برخي جوړولو راضي هم سي او دا وګڼل سي چي دغه شخص په زور نه بلکه په خوښه په دې راضي دی بیاهم د هر مړي لپاره دا لازم ګڼل او لکه څنګه چي د مړي کفن او ښخول شرعي واجبات دي په هغه درجه کي دا عقیدتاً ضروري ګڼل یا عملاً د ضروري په درجه کي لازم ګڼل همدا احداث في الدین دی چي د شریعت په اصطلاح کي بدعت ورته وایي او د معنا په حیث سره په شریعت کي بدلون او زیاتوب دی، نعوذبالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.Taleemulislam-Radio.com


د دغه رواج په پابندۍ سره د عامو خلکو او ناپوهانو دا جراءت کېدلای سي چي ټوله عمر دي نه لمونځ کوي، نه دي روژه نیسي نه دي حج کوي او نه دي زکات ور کوي د مرګ وروسته دي د یو څو پیسو په ورکولو سره دغه ټوله ګټي ترلاسه کړي چي دا د دین د بنسټ ورانولو برابر دی الله جل جلاله دي موږ ټولو مسلمانانو ته د دین پر صحیح لاره تللو او د نبي علیه السلام د سُنت د اتباع توفیق را په برخه کړي.

پور ته ذکر سوو فسادو ته په کتلو سره یوه مسلمان ته دا فیصله ګرانه نه ده چي دغه خیله، دوره او د دې رواجي رسمونه په ناپوهۍ ولاړ دي مړي ته د دې هیڅ ګټه نه رسیږي او کوونکي یې په ډیرو ګناهو اخته کیږي، والله سبحانه و تعالی اعلم.

مفتي محمد شفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لمانځه او د روژو د فديو مسئلې

مسئله: - چا چې د لمانځه، روژې، حج يا زکات لپاره يو وصيت وکړ دغه وصيت د هغه د ميراث په دريمي برخي پوره کول پر وارثانو لازم دی که وصيت د ميراث تر دريمي برخي زيات وي بيا د ټولو وارثانو په اجازه او رضايت پوري اړه لري که دوی ټوله يا په دوی کي يو د دې اجازه ور نه کړي بيا د ګډ ميراث څخه وصيت پوره کېدای نه سي که په وارثانو کي يو نابالغ وي بيا د هغه اجازه هم باور نه لري د ميراث تر دريمي برخي څخه زيات وصيت بايد د دغه نابالغ پر برخه اثر نه واچوي (1).

مسئله: - چا چې وصيت کړی وي او دومره مال يې هم پرې ايښی وي چې د هغه په دريمه برخه کي ټول وصيتونه پوره کيږي بيا د وارثانو پر ذمه واجب دی چې د مړي وصيت پوره کړي په دې کي سُستي نه وکړي که د

1: هدايه، عالمګيري، شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library


مړي د مال په موجودتیا کي د مړي د لمانځه او روژې په فدیه کي په اسقاط باور وکړي مال پخپل منځ کي وو-شي ګناه یې د دوی پر ذمه پاته ده.

**مسئله:**- د وصیت کولو په صورت کي د فرایضو او واجبو اداینه داسي کېدلای سي:

۱:- د هر ورځي لمونځونه دي د وتر سره شپږ. وشمېرل سي او د هر لمانځه فدیه پاو کم دوه سېره غنم یا د دې قیمت دی یعني د یوې ورځي د لمونځو فدیه لس نیم سېره غنم یا د دې قیمت دی.

۲:- د هري روژې فدیه پاو کم دوه سېره غنم یا د دې قیمت دی د روژې مبارکي د روژو ماسیوا که یې یو نذر منلی وي د هغه فدیه به هم ورکوي.

۳:- د څومره کلو او څومره مال زکات چي پاته سوی وي د هغه حساب کولو وروسته به زکات ادا کوي.

۴:- که فرضي حج یې ادا نه کړ ییا د مړي د ځای څخه به یو څوک د حج بدل لپاره استوي او د دغه شخص د لاري ټول ضروري مصرفونه به ادا کوي.

۵:- که د یو چا حق وربانديي وي د حق په برابر به هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته ورکوي.

٦ :- څومره سرسایې چي پاته سوي وي د هري سرسایې لپاره به پاو کم دوه سېره غنم یا د دې قیمت ورکوي.

۷ :- که قرباني پاته سوې وي نو د هري قربانۍ لپاره د یوه پسه یا بزې قیمت یا د غوا، غويي د یوې برخي قیمت دي اندازه کړي وروسته دي دغه پیسې صدقه کړل سي.(۱)

۸ :- که د تلاوت سجدې پاته سوي وي بیا احتیاط په دې کي دی چي د هري سجدې په بدل کي پاو کم دوه سېره غنم یا د دې قیمت صدقه کړل سي.

۹ :- که د قضا سوو لمونځو یا روژو صحیح شمېر معلوم نه وي بیا په اندازې سره دي حساب ولګوي.

دا ټوله احکام هلته دي چي مړي د دې وصیت کړی وي او د وصیت قدر مال یې پرې ایښی وي که وصیت یې کړی نه وي یا د وصیت د پوره کولو لپاره میراث کافي نه وي بیا پر وارثانو د مړي د فرایضو او واجبو فدیه ورکول لازم نه دی هو که دوی یې پخپله خوښه د مړي سره د خوا خوږۍ لپاره وغواړي ثواب ورباندي واجبیږي.

مفتي محمد شفیع

۱: منة الجلیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نبي عليه السلام سايه

**پوښتنه:**- د نبي عليه السلام سايه وه که نه؟ ځيني وعظ کوونکي وايي چي د نبي عليه السلام سايه نه وه د دي ثبوت سته که نه؟

**جواب:**- که په يوه صحيح نقل سره دا ثابت سي چي د معجزي په توګه د نبي عليه السلام سايه پر مځکه نه جوړېده بيا خو هيڅ مسلمان د دي خبري په منلو کي ځنډ نه کوي خو په دي هکله هيڅ صحيح نقل نسته د حديثو په کتابو صحاح سته او داسي نورو کي د دغه مضمون هيڅ حديث نسته البته په خصائص کبرٰی کي شيخ جلال الدين سيوطي رحمة الله عليه د دغه مضمون يو حديث مرسلاً روايت کړی دی:

باب المعجزة فى بوله و غائطه صلى الله عليه وسلم "اخرج الحكيم الترمذي من طريق عبدالرحمن بن قيس الزعفراني عن عبدالملک بن عبدالله بن الوليد عن ذکوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن یری له ظل في شمس ولا قمر ولا اثر قضاء حاجة" (۱)

و قال في باب الایة في انه صلی الله علیه وسلم لم یکن یری له ظل، اخرج الحکیم الترمذي عن ذکوان بمثله، ثم قال ای السیوطي "قال بن سبع من خصائصه ان ظله کان لا یقع علی الارض وانه کان نورا فکان اذا مر فی الشمس او القمر لا ینظر له ظل. قال بعضهم و یشهد له حدیث قوله علیه السلام فی دعائه واجعلني نوراً" (۲)

خو دغه روایت له یو څو وجهو څخه ثابت او باوري نه دی.

۱:- اول دا چي د اصحابو کرامو ومخ ته د نبي علیه السلام ټوله ژوند پروت دی د لمر او سپوږمۍ په رڼا کي د نبي علیه السلام تګ راتګ، ناسته او ولاړه په سفر او کور کي لنډه دا چي ټوله پیښي د اصحابو کرامو ومخ ته دي ښکاره خبره ده چي دا پیښي بې شمېره دي بیا کتونکي اصحاب کرام په زرهاوو دي د اصحابو کرامو له عادت

۱: خصائص اول ټوک مخ۷۱ چاپ دائرة المعارف

۲: خصائص اول ټوک مخ۶۸، و بمثله ذکره فی المواهب نقلا عن الفخر الرزای رحمة الله علیه مواهب، دویم ټوک مخ۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


شخه دا هم معلوم دی چي دوی د نبي عليه السلام لږ قدر خبره، نقل او حرکت، آثار او حالاتو د بيانولو ډېر خيال ساتی د دې يقيني غوښتنه دا ده چي که دا پېښه ثابت وای نو د بې شمېره اصحابو کرامو څخه به يې روايت نقل سوی وای خو کله چي موږ د حديثو په ذخيرې باندي نظر واچوو په دې هکله فقط يو حديث هغه هم مرسل موندو دغه حديث هم د سند لخوا بيخي ضعيفه راوځي او دا خبره قوي ښکاره کيږي چي دا پېښه صحيح نه ده.

۲ :- دغه حديث مرسل دی او د محدثينو يوه غټه ډله مرسل حديث حجت نه ګڼي.

۳ :- د دغه حديث اول روايت کوونکی عبدالرحمن بن قيس زعفراني دی چي بيخي ضعيفه، درواغجن او د باور وړ نه دی بلکه ځيني خلکو دا هم ويلي دي چي د درواغو حديثونه يې جوړول پر دغه ويناګانو دي نظر وکړل سي:

قال في الميزان كذبه ابن مهدي او ابو زرعة و قال البخاري ذهب حديثه و قال احمد لم يكن بشئ و خرج له الحاكم حديثاً منكرا و صححه و مثله في التقريب و قال في تهذيب التهذيب كان ابن مهدي يكذبه و قال احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديثه ضعيف و لم يكن بشئ متروک الحديث و قال النسائي متروک الحديث و قال زکريا الساجي ضعيف کتبت عن حوثرة المنقري عنه و قال صالح بن محمد کان يضع الحديث و قال بن عدي عامة ما يرويه لا يتابعائميه الثقات قلت قال الحاکم روي عن محمد بن عمرة حماد بن سلمة احاديث منکرة منها حديث من کرامة المومن على الله ان يغفر لمشيعيه قال و هذا عندي موضوع وليس الحمل فيه الاعليه و قال الحاکم ابو احمد ذاهب الحديث و قال ابو نعيم الاصبهاني لا شيئ.

د دې بل روايت کوونکی عبدالملک بن عبدالله بن عبدالوليد دی چې حال يې معلوم نه دی په رواجي کتابو کې د ده ذکر نسته.

لنډه دا چې په يوه داسې عمومي پېښه کې د ټولو اصحابو چپ پاتېدل او فقط په يوه مرسل حديث کې د دې ذکر د روايت د بې باوره کېدو او نه ثابتېدو لپاره قوي نخښه ده.

دويم دغه روايت مرسل دی، دريم د دې روايت کوونکی بيخي درواغجن او حديث له ځانه جوړوي که دغه حديث ته له ځانه جوړ سوی وويل سي ليري خبره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده او ځیني خلکو چي د سایي د نه جوړیدو په هکله په دي خبري دلیل نیولی دی چي الله جل جلاله په قرآن کي نبي علیه السلام ته نور ویلي دي او نبي علیه السلام په دعاګانو کي اجعلني نوراً فرمایل نو دغه دلیل بیخي د پام وړ نه دی ښکاره خبره ده چي په آیت یا د حدیث په دعا کي د نور دا معنا نه ده چي د دې خاکي دنیا کیفیت او آثار په نبي علیه السلام کي نه وې یا د نبي علیه السلام دعا او خواهش دا وو چي د دې نړۍ د خاصو آثارو څخه بېل سي معاذالله د باد په شان سي بلکه د عاقلانو او عالمانو په اتفاق معنا دا ده چي څرنګه نور د هدایت پوهني او دید ذریعه ده همدا رنګه نبي علیه السلام د هدایت ذریعه ده څرنګه چي د نبي انتهایي کمال دا دی چي د ده نبوت او هدایت په بشپړه درجه کي وي ځکه نبي علیه السلام په خپلو دعاګانو کي دغه بشپړتیا غوښته او په همدې معنا سره په قرآن شریف کي قرآن او تورات ته نور ویل سوي دي په دغه معنا کي اصحابو کرامو ته د هدایت ستوري ویل سوي دي د دې پر ته دغه دعا اجعلني نوراً ښوونه ټول امت ته سوې ده په دغه دعا کي د نبي علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصیت هم پر ځای نه پاتیږي.

ځیني خلکو د سایې د نه جوړېدو دا لامل ښوولی دی چې کومې خوا ته به نبي علیه السلام تلی پر سر مبارک به یې ملایکو یا د رحمت وریځو سایه کوله که دا خبره ثابت سي بیاهم نور صحیح او ډاګیز روایتونه د دې په ټکر کې ستنه مثلاً د صحیح بخاري په حدیث کې د هجرت په هکله د بي بي عایشې رض څخه روایت سوی دی:

"ابابکر قام للناس وجلس رسول الله صلی الله علیه وسلم صامتا فطفق من جاء من الانصار ممن لم یر رسول الله صلی الله علیه وسلم یحیی ابابکر حتی اصابت الشمس رسول الله صلی الله علیه وسلم فاقبل ابوبکر حتی ظلل علیه بردائه فعرف الناس رسول الله صلی الله علیه وسلم عند ذالک" کذا فی المواهب، و قال الزرقاني فی شرح المواهب و عند بن عقبة عن الزهری "فطفق من جاء من الانصار یحسبه ایاه حتی اصابته الشمس اقبل ابوبکر بشئ اظله به" (۱) و مثله یروی تظلیله علیه السلام فی حجة الوداع وهو مشهور و مذکور فی عامة الکتب.

---

۱: شرح المواهب للزرقاني اول ټوک مخ ۳۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د نسایې نه جوړېدو حدیث به د دغه روایتو په مقابل کي غیر ثابت وګرځول سي یا داسي به وویل سي چي مخکي داسي وو خو وروسته دا حال پر ځای پاته نه سو قسطلاني په مواهب کي همدغه خبره خپله کړې ده ځکه د هجرت د حدیث د نقلولو وروسته یې فرمایلي دي:

فظاهر هذا انه علیه الصلوة والسلام کانت الشمس تصیبه و ما تقدم من تظلیل الغمام والملائکة له کان قبل بعثته کما هو صریح فی موضعه.[۱]

یعني دا خبره ښکاره سوه چي پر نبي علیه السلام لمر اثر کوی او پر نبي علیه السلام باندي د وریځو او ملایکو سایه کولو چي کومي پېښي دي هغه تر نبوت دمخه دي.

## د اولیاوو د زیارتو شرعي حیثیت

**پوښتنه:** – (۱) د عرس لغوي معنا څه ده او د شریعت په اصطلاح عرس څه ته وایي؟ پخوا د دې وجود وو که نه؟ دا کله پیل سو؟

۱: زرقاني اول ټوک مخ ۳۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲:- نن سبا د هند او بنګال په ځینو ځایو کې مثلاً اجمیر، برېلي او داسي نورو ځایو کي پر یوې ټاکلي نېټې یو شاه صاحب پر یوه زیارت کښیني مریدان ورباندي راټول سي پر زیارت باندي قیمتي پوښ واچول سي خېمې ودرول سي پر زیارت څراغونه بل کړي د زیارت شاوخوا خلګ د د صاحب زیارت په شان کي نعتونه وایي او نڅا کوي دغه کارونه روا دي که نه؟ په داسي عرس کي ګډون کوونکي بدعتیان دي که نه؟

۳:- دلته ځیني پیران داسي هم سته چي خپلو مریدانو ته د سجدې کولو امر کوي دا رنګه امر کوونکي او دغه امر پر ځای کوونکي مرتد او بې دینه دي که نه؟ ځیني پیران که څه په خوله داسي امر نه کوي خو کله چي مریدان سجده ورته کوي دوی منع نه پر کوي داسي پیر لپاره څه حکم دی؟ آیا دوی د نبي علیه السلام د فرمان په برابر:

الساکت عن الحق کشیطان الاخرس.

نه دي او کبیره ګناه ورباندي سته که نه؟ ځیني پیران خپل مریدان د دې څخه منع کوي مریدان یې نه مني او سجده ورته کوي کله یې منع کړي او کله حیران ورته

صدیقي کتب خانه کاسي روډ کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاته سي خو بياهم عرس نه بندوي چي دغه شرک او بدعت بيخ وخيژي بلکه عرس د ثواب باعث گڼي پير دا هم وايي چي زه څه وکړم خلک له سجدې څخه منع کوم دوی يې نه مني زه معذوره يم.

۴:- پير څه ته وايي؟ داسي شخص پير جوړول او ده ته عقيده ساتل روا ده که نه چي پورتني کارونه کوي؟

۵:- د الله جل جلاله پر ته بل چا ته سجده حرام ده او که په دې هکله څه تفصيل سته ځيني خلک د تحيې سجده روا گڼي ځيني خلک په دې هکله د فتوی تيسير حواله ورکوي او څوک بيا د فتح القدير حواله ورکوي آيا د دغه کتابو حوالې صحيح دي که نه؟

٦:- د بدعت پيژندنه او قسمونه کوم دي؟ کوم بدعت گناه لري او کوم يو يې نه لري؟ که عرس بدعت دی عرس کوونکو ته بدعتي ويلای سو که نه؟ او د داسي شخص پسې لمونځ څرنگه دی؟ که د بدعت کېدو سربېره بياهم يو څوک عرس نه پرېږدي پر دې باندي ټينگار کوي او دا کوشش کوي چي عرس روا او د ثواب وړ وگرځوي دا څرنگه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷ :- د کوم بدبویه شیانو خوړولو وروسته چي مسجد ته راتلل منع دي ځوک چي دغه شیان وخوري وروسته مسجد ته رانه سي او په جماعت کي ګډون نه وکړي خو د جماعت نیت ولري د جماعت ثواب ور رسیږي که نه؟

**جواب:-** عرس په عربي لغت کي د ولیمې ډوډۍ او نکاح ته ویل کیږي:

کما صرح به القاموس.

نن سبا زموږ په هیواد کي چي کوم عرس لمانځل کیږي یعني د یوه بزرګ د وفات پر نېټه باندي هر کال د هغه پر قبر باندي جمع کېدل او میله جوړول دا فعل هم ایجاد سوی بدعت دی په اولني وختو کي لا څه چي په وروستني وختو کي هم تر پېړیو پوري د دې نوم او نشان نه وو ډېر وروسته دا ایجاد سو مشهور دا دي چي څرنګه د نورو ټولو بدعاتو اول پلا پیلېدل بد نه وو وروسته د خلګو زیاتوب ګناه او بدعت وګرځوی همدا رنګه په دې هکله اول داسي وسو چي شیخ عبدالقدوس ګنګوهي رحمة الله علیه هر کال د کلیر پیر مخدوم صاحب رحمة الله علیه زیارت ته ورتلی. خو نېټه به یې ټاکلې نه وه د شیخ په راتګ چي د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریدان خبر سول دوی هم دلته راتلل بیا خلګو فکر وکړ چي د شیخ صاحب سره یو ځای حاضرېدل ګران دی یوه ورځ یې ورته وټاکله اوس هم منکرات جمع سوي نه وه وروسته ناپوهانو خلګو په دې کي دومره زیاتوب وکړ چي په سوو محرمات، شرک او کفر سره یوځای سوه بیا هر ځای د دې رواج سو په دې هکله دوې خبري دي یو دا چي د بدعاتو او رواجي منکراتو پرته عرس او بل دا چي د بدعاتو او منکراتو سره عرس څنګه دی؟

د اولي خبري جواب دا دی چي په اتفاقي توګه که یو څوک د یوه بزرګ زیارت ته همېش هر کال ځي خو نېټه یې ټاکلې نه وي او څه خاص انتظام نه ورته کوي بیا هیڅ باک نه لري بلکه مستحب او سُنت دی په دې شرط چي رواجي منکرات هلته نه وي:

لما اخرج ابن جریر عن محمد بن ابراهیم قال کان النبی صلی الله علیه وسلم یاتی قبور الشهداء علی راس کل حول فیقول سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار.

شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه پخپلو لیکنو کي فرمایي:

که روز عرس برائے آنست که آن روز مذکور انتقال

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایشیان می باشد از دار العمل بدار الثواب والا هر روز که این عمل واقع شود موجب فلاح و نجات است. [۱]

خو پر يوې ټاكلي نېټې دا ضروري ګڼل داسي كار كول چي خلګو ته دا ضروري ښكاره سي او پر نه كوونكو باندي د نيوكي ځاى پيدا سي دا يو بد بدعت دى چي د اسلام په اصولو كي يې هيڅ نوم نسته.

دويم هغه عرس چي رواجي منكرات په كي وي او دا د عرس لپاره لازم ګڼل كيږي د دې جواب ښكاره خبره ده چي يو خو پخپله بدعت دى بيا په دې كي ډېر مشركانه كارونه، بدعتونه او ګناهوي كبيري چي يو څو يې دا دي:

۱: - څراغ بلول چي د حديث شريف له رويه حرام دى نبي عليه السلام پر قبرو پر څراغ بلونكي باندي لعنت كړى دى. [۲]

۲: - پر قبر څادر غوړول چي په حديث كي يې په ډاګه مخالفت سته. [۳]

---

۱: مجموعه فتاوی دريم ټوک مخ ۶۹

۲: مشكات

۳: بخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳:- د دوی په نامه نذر منل چي مطلقاً حرام دی:

قال في البحر الرائق الاجماع على حرمة النذر للمخلوق ولا ينعقد ولا يشتغل به الذمة وانه حرام بل سحت ولا يجوز لخادم الشيخ اخذه ولا اكله ولا التصرف فيه بوجه من الوجوه.

۴:- د نذر دغه میټهایي د برکت لپاره خوړل او وېشل، د بحر الرایق د پورتني بیان څخه معلوم سو چي دغه نذر حرام دی ځکه د دې په حلال او برکتناکه ګڼلو کي د کفر اندېښنه سته، والعیاذ بالله.

۵:- ساز او سرود چي د دې پر منع کېدو او غندني کي بې شمېره حدیثونه سته په تفسیر روح المعاني کي د آیت لهو الحدیث لاندي بې شمیره روایتونه یوځای کړل سوي دي هلته دي رجوع وکړل سي او د شیخ ابن حجر مکي رساله کف الرعاع عن محرمات اللهو والسماع هم پر دغه موضوع کافي او شافي ده پخپله د صوفیانو یوې غټې ډلي دې ته ناروا ویلي دي د دې لپاره دي د مولانا تانوي رحمة الله علیه رساله حقوق السماع وکتل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۶:- د بدکارو ښځو سندري ويل او يوځای کېدل چي پخپله د ډېرو محرماتو يوځای کېدل دي.

۷:- پر قبرو باندي د عامو ښځو جمع کېدل چي په دې هکله په حديث کي فرمايل سوي دي:

لعن الله زوارات القبور.

۸:- پر قبرونو د مجاورو کښېنستل چي د حديثو او فقه په باوري کتابو کي يې منع راغلې ده.

۹:- د قبر طواف کول چي قطعاً حرام دی ملا علي قاري رحمة الله عليه په شرح مناسک باب زيارت روضة القدس کي فرمايي:

ولا يطوف ای ولا يدور حول البقعة الشريفة لان الطواف من مختصات الكعبة المنيفة يحرم حول قبور الاولياء انتهی.

۱۰:- د عبادت په نيت سجده کول ښکاره کفر دی او د عبادت د قصد پرته د غټې درجې ګناه کبيره ده:

کما سياتی تفصيله.

که پلټنه وسي دا رنګه په سوو ګناهونه په دغه عرسو کي ليدل کيږي:

و في ذالک کفاية لمن اراد الهداية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د کوم وخت څخه چې دا رنګه عرس رواج سوی دی د هغه وخت څخه عالمانو او پخپله صوفیانو چې څېړنه یې کوله د دې څخه منع کوله قاضي ثناء الله پاني پتي رحمة الله علیه چې د ظاهري علوم ماهر او عالم کېدو سربېره په نقشبندیه کورنۍ کې د مرزا مظهر جان جانان رحمة الله علیه په خلیفه ګانو کې دی په ارشاد الطالبین کې فرمایي:

"قبور اولیا بلند کردن و گنبد بران ساختن و عرس و امثال آن چراغان کردن همه بدعت است بعض از ان حرام او بعض مکروه پیغمبر خدا بر شمع افروزان نزد قبر و سجده کنندگان را لعنت گفته".

په بریقه شرح طریقه محمدیه اول ټوک مخ ۱۲۲ کې لیکلي دي:

"واقبح البدع عشرة وعد منها طعام المیت وایقاد الشموع علی المقابر والبناء علی القبر و تزیینه والبیتوتة عنده والتغنی والسماع واتحاذ الطعام للرقص واجتماع النساء لزیارة القبور... الخ".

شاه محمد اسحاق محدث دهلوي رحمة الله علیه په مسایل

(c) ketabton.com: The Digital Library


اربعين كي فرمايي:

”مقرر ساختن روز عرس جائز نيست در تفسير مظهري مى نويسد، لايجوز ما يفعله الجهال بقبور الاولياء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السراج والمسا جداليها ومن الاجتماع بعد الحول كالاعياد و تسمونه عرسا“.

اصله خبره هغه ده چي امام مالك رحمة الله عليه كړي ده:

فالم يكن يومئذ دينا لايكون اليوم دينا.

ځكه كوم عبادت چي د نبي عليه السلام او اصحابو كرامو او تابعينو په وخت كي اصل نه ولري هغه عبادت نه گمراهي ده په رساله قشيريه كي د دې خبري په تاييد كي د طريقې د ډيرو بزرگانو وينا گاني ليكل سوي دي:

فليراجع ثمه و مثله في مفتاح السنة للسيوطي ص۵.

۲:- د دغه خبرو څخه ثابت سو چي داسي كوونكى بدعتي او سخت گناهكاره دى.

۳:- د الله جل جلاله پرته بل چا ته سجده ول كه د عبادت په نيت وي بيا ښكاره كفر او ارتداد دى (نعوذبالله

(c) ketabton.com: The Digital Library


منه) او که د عبادت په نیت نه وي بلکه د عزت په قصد وي بیا ارتداد او کفر نه دی خو سخته ګناه او شرک ته نژدې دی:

کذا قال ابن حجر المکي في الاعلام بقواطع الاسلام علی هامش الزواجر.[۱]

و في المواقف و شرحها من صدق بما جاء به النبي صلی الله علیه وسلم و مع ذالک سجد للشمس کان غیر مومن بالاجماع لان سجوده لها یدل بظاهره انه لیس بمصدق و نحن نحکم بالظاهر فلذالک حکمنا بعدم ایمانه لان عدم السجود یغر الله داخل في حقیقة الایمان حتی لو علم انه لم یسجدلها علی سبیل التعظیم واعتقاد الالوهیة بل سجدلها و قلبه مطمئن بالایمان لم یحکم بکفره فیما بینه و بین الله تعالی و ان اجری علیه حکم الکافر في الظاهر انتهي. ثم قال نقلاً عن الروضة ولیس من هذا ما یفعله، کثیر من الجهلة الظالمین من السجود بین یدی المشائخ فان ذالک حرام قطعاً بکل حال سواء کان للقبلة او یغرها و سواء قصد السجود لله او غفل و في بعض صورة ما یقتضي

۱: دریم توک مخ ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


الکفر عافانالله تعالیٰ من ذالک انتهي، ففهم انه قد یکون کفراً بان قصد به عبادة مخلوق او التقرب الیه و قد یکون کفراً بان قصد به عبادة مخلوق او التقرب الیه و قد یکون حراماً ان قصد به تعظیمه او الخ.

همدغه مضمون شاه محمد اسحاق محدث دهلوي په مائة مسایل کي په درو دېرشمي مسئلې کي ذکر کړی دی او حلبي په شرح منیه کبیر کي ویلي دي:

حتی لو سجد لغیر الله یکفر.

د دې څخه معلوم سو چي د الله جل جلاله پرته بل چا ته سجده د ډېري سختي درجې ګناه ده کوم پیر چي خپل مخ ته دا جاري ساتي که څه هم د دې امر نه ورته کوي بیاهم په ګناه کي یې شریک دی بالفرض که خلک یې خبره نه مني نو دی د څه شي پیر دی لږ تر لږه جلا کېدل وربانديي فرض دی.

لنډه دا چي د داسي پیرانو لاس نیوی (بیعت) حرام دی چي د شرعي حدودو خیال نه ساتي لکه څنګه چي امام غزالي رحمة الله علیه په خپلو زیاترو لیکنو کي او رساله

(c) ketabton.com: The Digital Library



قشریه، عوارف المعارف کي پخپله د تصوف د امامانو د وینا ګانو څخه دا ثابت سوي دي.

۴:- شاه ولي الله رحمة الله علیه په القول الجمیل کي د پیر یعني کامل شیخ لپاره یو څو شرطونه لیکلي دي په کوم شخص کي چي دغه شرطونه نه وي د هغه پر لاس بیعت کول په کار نه دی خصوصاً په کوم شخص کي چي دغه پورته ذکر سوي خبري موجود وي او ګناهونه کوي د هغه پر لاس بیعت کول حرام دی، و ذالک کله ظاهر.

۵:- د سجدې په هکله په دریم جز کي بشپړه خبره وسوه دا خبره خو صفا ده چي د الله جل جلاله پر ته بل چا ته سجده حرامه ده په کفر کي یې تفصیل سته په حرمت کي یې هیڅ تفصیل نسته د فتح القدیر خوا ته د دې روایښت کول غلط دی.

٦:- بدعت په لغت کي هر نوي کار ته ویل کیږي که څه عادت وي او که عبادت کومو خلګو چي دغه معنا خپله کړې ده هغو بدعت پر دوو قسمو وېشلی دی ښه او بد د کومو فقهاوو په وینا ګانو کي چي ځیني بدعتو ته ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل سوي دي هغه د لغت د دغه معنا په برابر بدعت دي که نه په حقیقت کي بدعت نه دي او د شرعي بدعت معنا دا ده چي په دین کي یو کار زیاتول یا کمول چي د اصحابو کرامو او تابعینو د زمانې وروسته سوی وي او د نبي علیه السلام څخه د هغه نه قولاً نه فعلاً، نه صراحتاً نه اشارةً اجازه نقل سوې وي:

هذا ملخص ما في الطریقة المحمدیة وهو اجمع مارایت من تعریف البدعة وان اردت التفصیل فراجعه.(۱)

بیا بدعت درجې لري ځیني د مکروه په درجه کي دي ځیني د حرام او ځیني د شرک په درجه کي دي پر بدعت باندي تینګار کوونکی په هر حال فاسق دی د ده پسې لمونځ مکروه تحریمي دی:

کما في الدر المختار و غیره وخلف مبتدع.. الخ.

۷: - کله چي د دغه شیانو پرېښودل د ده په وس کي دی او پرېږدي یې نه وي بلکه جماعت پرېږدي که څه نیت یې وي او که نه وي د جماعت ثواب نه ورسیږي البته

۱: بریقة شرح الطریقة اول ټوک مخ۱۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ک چي معذوره وي د هغو لپاره هم مناسب دی چي په جماعت کي دي ګډون نه کوي چي نورو خلګو ته تکليف نه ورسيږي داسي خلګو ته د جماعت ثواب په کور کي ورسيږي انشاءالله:

کما صرح به الفقهاء والتفصيل في رسالتي آداب المساجد.

**پوښتنه:** — د مسجد ترڅنګ زيارت دی پر زيارت هره ورځ او د جمعې په شپه څراغونه بليږي د تيلو انتظام د مسجد د آمدن او د محلې د خلګو په چنده پوره کيږي يوازي د زيارت لپاره دومره زيات تيل جمع کيږي چي د زيارت تر مصرف زيات دي که پاته تيل د مسجد امام خپل شخصي مصرف کي استعمال کړي روا دی که نه؟

**جواب:** — پر قبرو څراغ بلول روا نه دی په حديث کي دي:

لعن الله زوارات القبور والمتخذين عليها السراج.

ځکه کوم تيل چي پر زيارت د رڼا جوړولو لپاره جمع کيږي په کار دی چي دا په اصلي زيارت مصرف نه سي البته که په زيارت پوري اړوندي حجرې وي يا پر لاره رڼا ته اړتيا وي هلته يې مصرفولای سي همدا رنګه که د امام

(c) ketabton.com: The Digital Library


حجره په زيارت پوري اړه لري هلته يې هم مصرفولای
سي که نه بې اجازې بل ځای دغه تيل استعمالول روا نه
دی که دا معلوم سي چي خلک دغه تيل د نذر په توګه
زيارت ته ورکوي بيا هيڅ ځای هم د دې استعمال روا نه
دی ځکه چي د الله جل جلاله پرته د بل چا نذر حرام دی
او د هغه شي استعمال هم حرام دی چي د الله جل جلاله
پرته د بل چا په نذر کي ورکړل سي:

صرح به في البحر الرائق من كتاب النذر.

**پوښتنه:** – په مسجد کي دننه کافي رڼا وي او د زيارت
رڼا هيڅ فايده نه لري نو رڼا جوړول روا دی که نه؟ د
پنجشنبې په ورځ پر زيارت ختم کيږي په دغه ختم کي
ګډون څه حکم لري؟

**جواب:** – پر قبر څراغ بلول حرام دی د قرآن شريف په
ختم کي که نور بدعتونه نه وي بيا په دې کي ګډون باک
نه لري بياهم پرېښودل يې غوره دی ځکه دغه شيان که
پخپله بدعت نه وي خو وروسته کرار کرار تر بدعت
څخه هم زيات سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پوښتنه:**- د بزرګانو په سوو زيارتونه دي چي روا او ناروا دواړه رنګه دعاګاني ورته کيږي د دعاګانو لپاره زيارت ته حاضرېدل واجب او فرض ګڼل ښنګه دی؟ مړو ته ثواب له هره ځايه رسيږي او که زيارت ته تلل ضروري دی؟ دا رنګه دعا ښنګه چي اې فلانکې! ته د الله دوست يې او د هغه مقبوله بنده يې زما لپاره له خدای څخه دعا وکه چي خپل مرام ترلاسه کړم داسي دعا روا ده که نه؟ پر زيارتو عرس لمانځل کيږي په عرس کي ګډون ښنګه دی؟

**جواب:**- مړو ته د ثواب رسولو لپاره قبر ته حاضرېدل ضروري نه دی له هره ځايه ثواب ور رسيږي البته قبر ته د تللو دوې ګټي دي د عامو مومنانو قبرو ته په ورتللو عبرت، د عزيزانو او قريبانو قبرو ته په ورتللو د عبرت سره د حق اداينه هم، او د بزرګانو قبرو ته په ورتللو بر کتونه هم ترلاسه کيږي په دعا کي د قبر خاوند ته خطاب کول په کار نه دی بلکه داسي دعا باک نه لري چي ياالله! د فلاني مقبوله بنده په وسيله زما کار وکه.

**پوښتنه:**- زيد اوري چي د فلاني بزرګ زيارت ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښايسته دی زيد د سفر وروسته د زيارت ليدلو ته ورځي دغه تګ يې څنګه دی؟

**جواب:-** که هلته په بدعتو او منکراتو کي نه اخته کيږي بيا روا دی.

**پوښتنه:-** زيد وايي که زما فلانی کار وسو د فلاني بزرګ پرقبر څادر اچوم او هلته د الله جل جلاله په نامه نياز کوم دا څنګه دی؟ که د زيد کار د ده په خوښه وسي پر قبر څادر اچول ورباندي واجب دی که نه؟

**جواب:-** پر قبر څادر اچول پخپله ناروا دی او د دې نذر کول دويمه ګناه ده دغه نذر يې صحيح هم نه سو.

**پوښتنه:-** په رواجي طريقه هغه مجلس چي په هغه کي د نبي عليه السلام حالات بيان سي څه حکم لري؟ په دغه مجلس کي درېدل روا دی که نه؟

**جواب:-** ناروا دی که د بدعتو او رواجي تماکل سوو کارو څخه خالي وي بيا روا دی.

**پوښتنه:-** شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه ته د ثواب رسولو لپاره يوولسمه لمانځل روا دی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جواب:-** ثواب رسول روا دی په دې شرط چې یوولسمه به خاص نه ور ته ټاکي.

**پوښتنه:-** د بزرګانو ارواحو ته د ثواب رسولو لپاره زیارتو ته ډوډۍ استول کیږي دا روا دی که نه که په خپل کور کې دعا وکړي ثواب یې دوی ته وبخښي آیا په دې سره ثواب کمیږي که نه؟ لکه څنګه چې د زیاتره خلکو دا وینا ده چې نیاز تر هغه وخته نه قبلیږي تر څو چې یې زیارتو ته نه واستوي.

**جواب:-** زیارت ته ډوډۍ استول بې ځایه او بې معنا کار دی ثواب له هره ځایه رسیږي.

**پوښتنه:-** د محرم په لسیزه کې د امام حسین رض لپاره فاتحه کول څه حکم لري؟ د ده د شهادت بیان کول څنګه دی؟

**جواب:-** د ثواب رسولو یا د شهادت د بیان لپاره د محرم لسیزه ټاکل بې معنا او بدعت دی د یوې ورځې د ټاکلو پر ته که یو وخت یې وکړي روا دی او ډېر ثواب لري.

مفتي محمد شفیع

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library




## زموږ خپاره شوي پښتو آثار

جنتي او دوزخي د قران په رڼا کي
تعليم الاسلام
قصص الانبياء
قصص القران
د آخرت ذخيره
د واده مسئلې
تاريخ سردار عالم
پښتو اردو لارښود
پښتو انګلش لارښود
پښتو دري لارښود
پښتو عربي معلم
پښتو انګلش ټيچر
کټور معلومات
عمومي معلومات
د پښتنو قبيلو شجرې
اسلامي معلومات
يوسف عليه السلام کيسه
ملي هنداره
په مېوو او سابه سره درملنه
خوندور خواړه
د نعتو کتابونه

د ټرافيک لارښوونه
يو زر و يوه شپه
دايمي نقشه د کوټي د ښار لپاره
د سعدي حکايتونه
طارق بن زياد
محمد بن قاسم
چهار درويش
امير ارسلان رومي
شهزاده ممتاز او ملکه بېنظيره
پښتو انګليسي قاموس
مسخرې ايله دي
باطل نامه
بخت نامه
اسماء بدر
مراسلات افغاني
پښتانه شاعران
د ځلورو ژبو لارښود
د افغان ښوونځيو پښتو دري کتابونه
د ټکلو او داستانو کتابونه
د ټوکو کتابونه
د سندرو کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ چاپ شوي آثار




Naveed Grafix 0321 8017498 www.Taleemulislam-Radio.com

## صديقي كتب خانه كاسي روډ كوټه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**